شفق

SHAFAQ

مونږ د سره پوځ ماته نه منونکی خیال دړی وړی کړ

د تکبیر مجلې خبریال سره د حکمتیار صاحب مرکه



بسم الله الرحمن الرحیم

فرمان خدا

قل اعوذ برب الناس
ملك الناس
الـه الناس
من شرالوسواس الخناس
الذی یوسوس فـی صدور الناس
من الجنة والناس

ترجمه و توضیح :

بگو (ای پیامبر) ! که پناه می جویم به پرورش دهنـدهٔ مردم ، فرمانروای مردم ، خدای مردم : از شر و وسوسه افگنی (شیطان خناس) ـ کسی که از جملهٔ جنها و مردم ـ دردل مردم وسوسه میاندازند !

تنبیـه : سورهٔ « النـاس » وانمود میسازد که وسوسه نمودن تنها وظیفـهٔ شیطان جنـی نیست ؛ بلکه شیطان های انسی نیز در آن نقش به سزایی دارند ـ پس هوشیار باید بود و از شر این شیطان های آدم نما به خدا پناه جست .

مسؤول مدیر .... محمد معروف «فروغگر»

مرستیأل ....

لیکوال غړی :

۱ - محمد زبیر «شفیقی» ....

۲ - ذبیح الله «قریشی» ....

۳ - محمد رحیم «خنجر» .....

شفق

ارکان نشراتی حزب اسلامی افغانستان

کمیسیون ارشاد فرهنگ

احمد شاه ((وحدت)) ۲۸۶
Ahmad Shah (Vahdat)

سال سوم ـ شمارهٔ ششم و هفتم نمبر مسلسل ۲۷-۲۸ ـ جدی و دلـو

PROPERTY OF ACKU

د دی گنی مطالب

- پیغام شفق
- پیغام بر پیغام
- د تکبیر له مجلی سره د حکمتیار...
- تبصرهٔ سیاسی...
- افغانستان د روسی...
- نا رضایتی های مردم...
- روسها از اسلام در هراس...
- فرهنگ یاد تولنی معنوی...
- عوامل اساسی مشکلات...
- پایه های اخلاقی نهضت...
- اسلام یا لرپوال پیغام...
- باز تاب تعهد در زندگی...
- د یوه مبارز او مجاهد مسلمان...
- بر رسی ی پیرامون...
- د اسلامی حکومت...
- انگیزه های دعوت اسلامی...
- د انقلاب کونکسی...
- د اخوان المسلمین لرپوال...
- ربنتینی اتلان...
- یا دواره ی از شهدای...

سیاسی

فرهنگی

ایدیولوژیک

ادبی

تاریخی

۱۲۱

بسم الله تعالی الرحمن الرحیم

پیغام شفق

ای فلق ! ای سپیده دم !! تو بیا و بر افق خونین سرزمین شهید پرور ما فروزان شو!!! که درین جا سپاهیان نور برلشکریان ظلمت پیروز شده اند

ای آفتاب نصرت !!! تو بیا و برفراز سنگرهای خونین ما طلوع کن !! که درین میقات رنجها ، اهریمن شب در آستانه مرگ جبونانه تلاش دارد ، تا بساطش را بر چیند و راهی برای گریز ننگین خویش باز کند !

ای موکب سبز فام بهار !!! بر کشور خونین کفنان بیا !! که دیگر طلسم مرگبار پائیز دیرپا و جهنمی ، در میهن ما شکسته است و درین جا قطرات گوهرین اشک ها و خون ها نمایشگر بهارستان فردا های رنگین هستند !!

ای صبا !! تو بیا و بر کشور غرقه به خون ما مشک بیز شو!!! که درین داغستان اندوه بر کنار هر سنگی !! و در پای هرسنگری! شقایق سرخ شهادت شراره می زند !!

ای بلال !! ای منادی بزرگ!! برخیز و بیاو بر مناره خون شهیدان داغدار ما به ایست !! و به آواز رسایت تکبیر فلاح و رستگاری برگوی !! و از همان حنجره ناز نینت یکبار دیگر سرود عظمت و جلال نظام الهی را برخوان !

ای کوهساران بلند ، وای دره های مرد خیز کشور ما!! بنازید! که فرزندان سلحشور تان با نبرد بی اسان خویش پوزه بزرگترین قدرت شیطانی دنیا را به خاک ذلت مالیدند !!

آری !!

به مجاهدان فاتح و قهرمان ما بگویید ! که سنگرهای مقاومت و جهاد را گرم تر سازند !! و با حملات کفر شکن خویش عرصه را بر دشمن زبون تنگ تر و مرگبار گردانند . . به سنگرداران دین خدا در کشور ما پیام رسانید . . که حماسه استقامت و قربانی را ادامه دهند . . زیرا طلوع طلائی صبح و گریز شرمبار ظلمت نزدیک است . . .

به نهضتداران خونین قبای ما بانگ برزنید . . که به یمن ایثار و پایمردی شان افسانه شکست نا پذیری قدرت های طاغوت در هم شکسته و نعره های ملکوتی الله اکبر شان بناهای ستم آباد نظام های استکباری و جاهلی را به لرزه در آورد است . .

به آزاد مردان پیکار جوی ما صدا در دهید . . که ریشه های صبر و استواری را در بین صفوف پولا دین شان تقویت بخشند که همه قدرت‌های ستمگار جهان چنگ

PROPERTY OF ACKU

در چنگ هم داده اند تا بدست یاری ایادی مزدور خویش و بکار گرفتن دسایس نا جوانمردانه ای مقاومت الهی شان را سرکوب نموده از موج خیزی سیل خروشان انقلاب اسلامی ما جلوگیری به عمل آرند..

اگر می بینند که قدرت های جبار و ددمنش این جا و آنجا برای صلح و آزادی گلو پاره می کنند.. و به خاطر حل معضله کشور تان اشک تمساح می ریزند..

اگر می بینند که دشمن های دیرینه و آشتی ناپذیر.. مشتاقانه به ملاقات یکدیگر میشتابند و از صلح و دوستی دم می زنند..

اگر می بینند که طاغوتچه های عروسک مآب طلب گار صلح و آشتی ملی (!) می شوند..

این صحنه سازی های فریبکارانه همه و همه برای آنست تا زمینه را برای خاموشی داعیه مقدس جهاد و نبرد الهی ما آماده سازند و جنبش اسلامی ملت مسلمان افغانستان را که میرود تابنای مستحکم نظام شکوهمند اسلامی را دوباره برپا سازد و کوشک‌های پوشالی جهان خواران جفا پیشه را واژگون گرداند از تلاطم و تحرک جوشانش باز دارند!!

قدرت‌های استعماری هراس دارند تا مبادا روزی رایحهٔ حیات بخش جهاد و مقاومت از مرز های افغانستان بگذرد و در کالبدیخ زده و خاموش دیگر ملت های مسلمان که در چنگله خون چکان استکبار جهانی اسیر اند روح مقاومت و آزاده گی بدمد!! و همه ملت‌های مسلمان و محکوم با استشمام این نگهت دلاویز به پاخیزند و زنجیر های برده گی و اسارت نظام های استبدادی را پاره نمایند.

به جنگ آوران عاشق و دلباخته اسلام و شیر مردان مجاهد ما هوشدار دهید، تا با هوشیاری و فراست ایمانی شان در برابر تمامی توطئه های دشمنان خویش زیرهر عنوانی که به میدان کشیده بشود قهرمانانه ایستاده‌گی نمایند. و بر صحنه پردازی‌های مذبوحانه دشمن فاتحانه به خندند زیرا رمز پیروزی و نصرت شان در ادامه و شگوفانی هرچه بیشتر جهاد مقاومت ایشان است.. سعی کنند تا با تشدید نبرد و یورش‌های پیگیر بردشمن شکست خورده از سنگرهای خونین جهاد که یادگار شهیدان ملت قهرمان و مجاهد ماست حراست نموده آنها را همچنان گرم و خونین نگهدارند.

انشا الله که در اثر جانفشانی های خالصانه وجهود الهی شان، لشکریان رسوای ظلمت خواهند گریخت. و داعیه جهاد مقدس و اسلامی ما جهان گیر خواهد شد. و خورشید افتخار مسجد و عظمت امت اسلامی دوباره از خاوران طلوع خواهد کرد.

د غزني د شتم د جبهې مجاهدین د خواجه عمری ولسوالی د ولجه شو و نظامی مهماتو د انتقال په حال کی.

پیغام پر پیغام

لار او سازش

الیوم یئس الذین کفروا من دینکم فلا تخشوهم واخشون (آیه المائده : ۳)

د افغانستان مسلمان ملت دا توکالو په موده کښې د جهاد او جګړې په وینو لړلې لاره وهلې ده او اوس هم زموږ د ګران هیواد افغانستان په ګوټ ګوټ کښې دا د وینو او توری ترمنځ تاریخي جګړه پرمخ درومي. د هیواد د تاریخ پدی ټولو اوږدو کښې افغان میړنی اولس د خپلې عقیدوی ټګ لارې پربنسټ داسی ګمونه اوچت کړیدی چې نور نو نړیوال شیطانی ځواکونه «پیاز په بده نه شي وهلی» ترڅو چې روسی ښکیلاک ګرځواک او نوری نړیوالې کمونستی ډلې ټپلې د مارکسیستی فال کتنی «د تاریخی مادیت د فلسفی مفکوره» پر ډنډوره هم باور نه کوی خو داځل د مارکسیزم میراث خوارو د مارکس پلرنی میراث (سرمایه‌داری او سازش) د خپل‌نوی «اجتهاد !!» او «سوله ایز دکتورین» په نوم د کمونیزم له عقیدوی زیرمی څخه راوایستل ، خو له بده شامته د روسی کمونست ګوند خیرونکو او «پوهانو» د خپلې دغه نوی نظریي دا زمایښت او تجربې په خاطر دافغانستان په وینو لړلی خاوره او د افغانستان مسئله عملیاتی ډګرو ټاکه ، ځکه‌ئی نو پـه زړه او نا زړه سره د افغانستان د مسئلې د سیاسی حل د ډرامې د ښودلو لپاره د سپینې مانۍ تګماراِلو ته بلنه ورکړه او ترننه هم د افغانستان د مسئلې د سیاسی حل په نامه د ټګ او تګماردا ډرامه روانه ده ، د نړیوالو خبری آژانسونو د خبرله مخې د افغانستان د مسئلې «د سیاسی حل» پـه نامه د ملګرو ملتونـو د عمومی منشی د مرستیال پـه منځګړتـیا د پاکستان او د کابل د نظامی کمیسار ببرک تـرمینځ د غـیر مستقیمو خبرو اترو د جریان د شپږم پړاو د تعقیبیدو لپاره هلې‌ځلې روانی دی .

نړیوال‌کفر او ټول ښکیلاک‌ګرځوا کونه غواړی چې پدی ډول ډنډورو غږولو سره له یوازی دافغانستان د مسلمان او اتل ملت پر اوسنی جهادی ځواک بالدی ناوړه آغیزه واچوی بلکې پدی توګه د خپلو ټیمه خواهیلو او ناروا آرمانونو آخیرنی یادونه هم خواږه وساتی .

موږ داده یو چې د افغانستان مسلمان او مجاهد ځوا کونه او ټول وسله وال جهادی توکوله پـه ترهغی چې نړیوال کفر او د هغوی بې رحمه لښکری زموږ د هیواد وروستنی لویشت خاوره پرې نهږدی او په ګران هیواد افغانستان کښې د الهی عدل پربنسټ اسلامی بشپړی واکمنۍ ټینګښت نه‌وی موندلی خپل د شهیدانو پر وینو لړلی مورچلونه پرې نه ږدی .

ځکه نور نو د قرآنی تعبیر له مخې د نړی پرمخ ټول استکباری قدرتونه د نړیوال اسلامی غورځنګ او د افغانانو د اسلامی جهاد د لـه ماتیدونکی مقاومت له امله د غوځی ماتی سره مخامخ شویدی ، اوس نـو د ټولو مسلمانو قوتونو لمرنی د نده بللی شی چې د اسلامی لوړ رسالت او الهی مسئولیت په لاره کښې د پاک خدای (ج) څخه دویری درلودلو په پام کښې نیولو سره د صبر او تدبیر ځانګـړی معیارونـه د خپل اسلامی جهاد د بریالیتوب غوره ملاک وبولی . (والسلام

مونږ د سره پوځ ماته نه

منونکی خیال دری وری کړ

د تکبیر مجلې خبریال سره د حکمتیار صاحب مرکه



د شفق مجلې درنو لوستونکیو !

په لاندی کرښو کی بــه تاسی هغه مرکــه ولــولی چی د افغانستان د اسلامی حزب امیر محترم حکمتیار سره د پاکستان یــوی معتبری اسلامی مجلې «تکبیر» یوه تن ژورنالست کړی وه او د نومــوړی مجلې د ۱۹۸٦ کال (۲۷ دسمبر ـ ۲ جنوری) په ګڼه کی خپره شویده چی دلتهٔ ګرانو لوستونکو ته کټ مټ ژباړه وړاندی کوو .

(اداره)

ژباړن محمد خلیل «نورستانی»

ګلبدین حکمتیار چی د خپلی ځوانی له پیله د کمونیزم د راتلونکی توفان د راتلو اندازه لګولی وه ، د خپل ژوند زیاته برخهٔ ی د افغانستان د هغو ځلمیانــو پــه تنظیم او یو موټی کولـو کی تیره کــړی ، چی دینی حمیت ئی د کمونیــزم پــرخلاف غبرګ او چټــولو تــه راپارولی وو، پدی پرله پسی جهادکی چی د ظاهرشاه له وخت نــه شروع شــوی ؤ د ابراهیمی سنتو پــه پیروی کی د هغه د کور زیات کسان د خدای (ج) په لارهکی قربانی شول له خپل تول جائیداداومحکونه تیر شو خو د هغه په مسلسل جدوجهد کیځه کمښت رانغی ، او نن هغه د مجاهدینو ترټولـو لــوی تنظیم د افغانستان د اسلامی حزب مشری پر غاړه لری هغه دا تنظیم او جهاد بخپلو وینو خړوب کــړی دی هغه خپله ځوانی د زندان پــه تــورو سمڅو کی د اسلامی نظام د ترویج او د کمونیزم د شنډولــو لپاره وقف کــړی د هغــه ورځــی اوس هــم د صــدر اســلام د مجاهدینو په شان د جهاد په سنګرکی د دښمن په مقابله کی اوشپی ئی د الله (ج) په وړاندی سر په سجده تیر یږی.

د مره کی په پیل کی ما لــه حکمتــیار نــه پوښتنه د تحریک د ځلانــده تاریخ په باب وکړه چی د خپل ژوند او حزب اسلامی سره د اړیکو په پس منظر ځه رڼا واچوی تاسی چیرتــه زیږیدلی یاست ؟ زده کــړه موچیر تهٔ او د اسلامی مبارزی فکر ځرنګه در سره پیدا شو ، د حزب اسلامی بنسټ ګله او چیرته کیښودل شو ستاسو بخوانیو ملګــروکی ځوک وو او اوس د هغوی له ډلی ځخه ځومره کسانــ پدی اوسنی جهاد کی شریک دی ؟

دی پوښتنی ته له ځواب ورکولو ځخه هغه ډېره کوله د هغه په ېخ باندی ښکاره تاثرات ددی خبری

ثبوت وړاندی کاوه چی هغه د خپل ذات په هکله یادونه او د خپل ابتدائی ژوندانه دا حوالاتوتفصیلات ورکول شاید د نورو ملګرو په مقابله کی دخپل ځان او چت ښکاره کولو مترادف ګڼی .

ما د هغه دا ویره په مسلسل اصرار او د مړکی یوه اهم ضرورت په ګڼلو سره لری کول غوښتل او ورته‌می وویل چی د تاریخی ریکارډ د درستوالی په خاطر دا ډیره ضروری ده چی هغه د خپل او حزب اسلامی ابتدائی ورځی احوال په صحی توګه د ساتلو لپاره ځپله ژبه تکرار کړی حکمتیار زړه نا زړه پدی خبره باندی آماده شو مړه که‌یی پیل کړه .

د هغه آواز نرم لیکن متوازن مضبوط او د خبرو لهجه‌ئی ، زړه وړونکی او اغیزناکه وه د هغه مخ او سترګی‌ئی د هغه د خبرو ترجمان ؤو .

هغه وویل چی ځما پلار له غزنی څخه کندز ته هجرت کړی‌ؤ او زه د کندز د امام صاحب په یوه ولسوالی کی چی د آمو دریاب څخه تقریبا (۱۲) کیلومتره لری واقع ده زیږیدلی یم . ترشپږم ټولګی پوری می‌هلته سبق ویلی ، بیا د کابل په یوه عربی مدرسه کی شامل شوم او تراتم ټولګی پوری می هلته زده کړه حاصل کړه وروسته بیرته کندز ته ولاړم او تردولسم ټولګی پوری می سبق همغلته د شیر خان په لیسه‌کی ترسره کړ ، له هغه وروسته بیرته کابل ته راغلم او دا نجنیری په پوهنځی‌کی می داخله واخسته زه په لسم ټولګی‌کی وم ، چی کمونستانو خپل کارپیل کړ او په فعالیت‌یی شورو وکړه ، ما ته په همغه وخت کی دا احساس پیدا شوی ؤ چی که چیری د دی‌کار مخ نیوی و نشی په مستقبل‌کی به‌افغانستان لپاره یو ستر خطر ثابت شی زما هیله وه چی اسلامی فکر لرونکی خلک په یوه صف کی په څه ډول را غونډ او د هغوی یو تنظیم جوړ کړای شی .

د دی احساس په وجه په ۱۹۶۸ع کال کی د کابل په پوهنتون کی د اسلامی نهضت بنسټ کیښودلی شو . د دی مؤسسین (۱۲) کسان ؤو چی نومونه‌ئی دا دی استاد عبدالرحیم نیازی، مولوی حبیب‌الرحمن، ګل محمد ، انجینر حبیب الرحمن ، سیف الدین نصرت یار ، غلام ربانی عطیش ، استاد غلام حبیب، عبدالقادر توانا ، سعیدالرحمن ، انجینرګلبدین‌حکمتیار، خواجه محفوظ منصور او ډاکتر محمد عمر ، موږ د مسلمانو ځوانانو په نامه کار پیل کړ او ځمونږتولو وړومبنی کار د شب نامو تیارول او په مختلفو ځایونو کی د هغو لګول او ویشل وو .

دا هغه وخت ؤ چی کمونستانوته د سیاسی کارکولو پوره آزادی وه، په اصل‌کی روسی حکومت له ظاهرشاه سره د سیاسی او فوځی معاهدو د تړون په وخت‌کی دا شرط لګولی ؤه چی باید په افغانستان کی د ننه کمونستانو ته د کارکولو ، د اخبار چاپولو ، دفتر جوړولو ، د غونډو دائرلو د غړو پیدا کولو او د پارتی په د ننه کی د عام انتخابات کولو پوره آزادی وی، نو ځکه دوی په نتیجه کی په افغانستان کی دکمونیزم لپاره کارکول او دهغه په ذریعه قدرت حاصلولو خواهش‌لرونکو کسانو یوه مخصوصه ډله پیدا شوه چی د خپلو ذاتی او ګروهی ګټو لپاره یی ښه په فعال ډول سره کار کاوه ،

د دوی برعکس اسلامی ذهن او فکرلرونکی کسانو لپاره په سیاسی محاذ کی د کارکولوډیر سخت مشکلات ؤو ، د خپلی ټولی خپل سری او ګډوډی راوستو سره سره دکمونستانو څخه یوکس هم چیرته نه دی نیول شوی او هغوی هیڅ کله هم په زندان کی ندی اچول شوی .

ځمونږنهضت په اول کی ډیرمحدودو لیکن ورو ورو مونږ مخ په وړاندی لاړو او کاروان جوړ شو ، څه موده وروسته موږ هم د غونډو او مظاهرو انعقاد پیل کړ ، چه حکومت په پوره توان کوښښ کاوه چی

څه موده وروسته موږ د خپـل نهضت اجرائی کمیټه په پټـه انتخاب کړه چې پـه هغې کې له ۲٦ څخه زیاتو غـړو برخـه آخستې وه . د دې انتخاباتو په نتیجه کې پنځه کسان داجرائی کمیټی لپاره وټاکل شول چې عبارت وو له انجینرحبیب الرحمن، مولوی حبیب الرحمن ، انجینر سیف الدین نصرت یار ، استاد غلام ربانـی عطیش او انجینر گلبدین حکمتیار نه اگرچې انتخابات په خفیه ډول شوی وو ، لیکن د دې خبر تر اخباراتو پوری ورسید .

څمونږ نهضت په څه ډول ختم کړی ، لیکن الله (ج) د خپل نـه ختمیدونکی فضل و کرم سره څموـږ ، ساتنـه وکـړه او موږ د اسلامی انقلاب پـه لوری تیزگامونه واخستل، په ۱۹۷۰ **کال کې څمونږ یواهم ملگری استاد عبدالرحیم نیازی د ناروغی په وجـه په روغتون کې داخل شو ، موږ ته خبر ورسید چې حکومت د هغه په روغتوۍن کې دوژلولپاره پروگرام جوړ کړیدی ، موږ هغه په یوه طریقـه له روغتون نه وویست او هندوستان ته مووليـږه لکن هلته پـه حق ورسید د هغه په حق رسیـدل څمونږ د نهضت لپاره ډیر لوی نقصان ؤ لیکن څرنگه چې موږخپل تحریک د افـرادو پرځای په اصولو بانـدی استوار کړی وه نو ځکه څمونږ په کارکی څه کمی رانه‌غی.**

څه موده وروسته موږ د خپل نهضت اجرائی کمیټه په پټـه انتخاب کـړه چې پـه هغې کې له ۲٦ څخه زیاتو غړوبرخه آخستې وه . دډدی انتخاباتو په نتیجه کې پنځه کسان د اجرائی کمیټی لپـاره وټاکل شول چې عبارت وو له انجینر حبیب الرحمن ، مواوی حبیب الرحمن ، انجینر سیف الدین نصرت یـار ، استاد غلام ربانی عطیش او انجینر گلبدین حکمتیـار ، اگـرچـی انتخابـات پُـه خفیـه ډول شـوی ؤو ، لیکن د دی خـبر تر اخبـاراتو پوری ورسید ، په لږه موده کې نهضت ډیـر زیات قـوت حاصل کـړ ، خصوصاً په ځلمیانو او شاگردانو کې د دی مقبولیت په وار وار زیات شو ، تردی پوری چې په پوهنتون کی‌له‌نویوشامل‌شویوشاگردانونه اکثریت‌پدی‌نهضت‌کی شامل شول، چې په نتیجه کې د پوهنتون په انتخاباتو پـه ۱۲ پارټیو کی څموږ د پارټی امیدواران بریـالی شول د دی حال په لیدو سره کمونستـان وارخطا شول او هغوی له موږ سره ډیره سخته دښمنی شروع کړه ، له هغوی‌ د یوی نښتی په ترځ کې سیف‌الدین نصرت یار ، ډاکتر محمد عمر ، انجنیر حبیب‌الرحمان د حکومت له خوا بندیـان کـړای شول اوزه‌یی هم جیل ته ولیږلم زه پخپله یونیم کال پـه بندیخانو کی وم اوله تولونه وروسته خوشی شوم‌پدی وخت‌کی‌دمحصلینو په انتخاباتو کی څمونږ واضح اکثریت بیا ظاهـره شو حال دا چې څمونږ په خلاف مختلفو نظـریات لرونکو پارټیو اتحاد کړی ؤ د کابـل پـه پوهنتون کی څمونـږ د اکثریت او قـوت پـه وجـه کمونستانـو نـه شـو کولای چې د پوهنتون په حریم کی غونـډی وکـړی هغوی په ځلمیانو کی د عملی او فکری اثـراتـو پیدا کولو کی بالکل ناکام پاتی شـوی ؤو کمونستان پـوه شول چې که چیری دا تحریک همدا شان جاری وی نه یوازی د هغوی د خو کلـونـو خـواری او پانگه بی ځایه ځی بلکی څه موده وروسته د هغوی بقاهم په خطر کی لویږی .

نو ځـکه هغوی په وړومبی گام کی د ظاهـر شاهی حکومت ختمولـو او د سـردار داؤد د بـرسراقـتـدار

راوستلو لپاره په فوځ کی خپل تیت او پرک غړو د منظم کولو کار پیل کړ .

هغوی پدی ډیر ښه پوهیدل چی که چیری دا تبدیلی د ظاهر شاهی حکومت په دوْر کی وشی نو د عوامو د ډیر شدید مخالفت سره به مخامخ شی، نوځکه هغوی داوْدخان ته د اقتدار ورکولو پروګرام ونیوه او بالاخره په فوځ کی د خپلو ملګرو په مرسته هغوی په ظاهر شاه باندی کودتا وکړه او سردار داوْد د اقتدار واګی په لاس کی ونیولی او د دده کابینه دخلق او پرچم ډلو سره تعلق لرونکو کسانو په شمولیت د نوی حکومت کار پیل کړ لیکن په حقیقت کی اصل اقتدار د هغو فوځی منصبدارانو سره و چی په روس کی ئی تربیت حاصل کړی و او د کمونست پارتی سره د هغوی ژور تعلقات وْو .

د حکومت تر سنبالیدو وروسته سردار داوْد بخپل وړومبی خطاب کی د حکومت د تبدیلی وجوهات بیان کړل او وی ویل چی د مرتجعینو د قوت د زیاتوالی له کبله ترقی غوښتونکو قوتونو او د ملک سالمیت ته خطره پیدا شوی وه نوځکه موږ دخپلو همدردانو او په فوځ کی د خپلو حامیانو توجه دی لوری ته واړوله ددی نه وروسته ځمونږ د نهضت مشرانو او د اعضاوْ نیولو سلسله شروع شوه زه هم ونیولی شوم او ترشپږ و میاشتو پوری یی په بندیخانو کی واچولم ، د خلاصیدونه وروسته موږ د زیر زمینی فعالیت او چریکی جنګ شروع کولو فیصله وکړه .

د حکومت د سخت فشار او پرله پسی ګرفتار یو په وجه موږ پاکستان ته هجرت وکړ لیکن موږ کلکه فیصله کړی وه چی د خپلو فعالیتونو پیل به د داوْدی حکومت پرخلاف په ټول افغانستان کی کوو .

موږ په افغانستان کی د ننه د خپلو وګړو د تربیت سلسله شروع کړه د عسکری تربیت ورکولو خدمت ځمونږ د فوځ هغو صاحب منصبانو په غاړه آخستی وه چی زمونږ د نهضت منګری وْو ، بیا موږ خپل فعالیت د داوْد حکومت په خلاف شروع کړ .

د افغانستان په څو ولایتونو کی د حکومت په دفترونو او فوځی اډوباندی حملی شروع شوی او دا سلسله لاپسی زیاته شوه .

داوْد خان پوه شو چی هغه دا نهضت نه شی تکولی ځکه چی د افغانستان اکثر عوام د دی ملاتړ کوی، او د کمونستانو سره د هغه رابطه د عوامو د نفرت سبب ګرځی ، نو ځکه هغه د قوم په خپل اعتماد کی د راستلو او د کمونستانو څخه د لری کیدو فیصله وکړه د خپل حکومت څخه ئی ځینی کمونست وزیران لری کړل او د هغوی پرځای ئی داسی کسان شامل کړل چی د اسلام پسندو په نامه مشهور وْو ، له دی

وروسته هغه پاکستان ، ایران ، مصر او دسعودی عرب ته هم سفرونه وکړل ، کله چی روسیانو دا خبره محسوسه کړه چی داوْد د هغوی له لاسه وځی نو هغوی د یوی بلی کودتا تیاری شروع کړ په فوځ کی د اسلامی نهضت د مضبوطو اثراتو له کبله کمونستانو ته دا کار مشکل تمامیده چی فوځ د دوهم ځلی لپاره استعمال کړی ، هغوی پدی انتظار کی وْو چی اسلامی نهضت او د سردار داوْد ترمنځ زیاتیدونکی تلخی دی حد ته ورسوی چی کورنی شخړی شروع شی او بیا له موقع نه ګټه واخلی او یوه بله کودتا وکړی ، د دی مقصدونو اظهار حفیظ الله امین دخپل ګوند په یوه مخصوصه خپره شوی رساله یوه مضمون کی کړی ؤ پدی وخت کی میر اکبر خیبر چی د کمونستانو یو مهم او سر کرده لیډر وْد ځینو خلکو له خوا ووژل شو د عکس العمل په توګه کمونستانو د کابل په ښار کی مظاهری شروع کړی او د داوْد حکومت په خلاف ئی احتجاجی مظاهری وویستلی د کمونستانو د دی تحریک په مقابل کی سردار داوْد خان د هغو څو مهم لیډران ونیول او دا رازئی هم ښکاره کړ چی

د هغوی له قبضې نـه پـه حکومت باندې د کودتا کولو د سازش اسناد ترلاسـه شویدي د کمونست پارټۍ سره تعلق لرونکی ځینې فوځي افسران ېټ شول ځکه چـې د هغوی نـومونه رسوا شوی ؤو ، اوس کمونسټ پارټۍ مجبور شوی وه چې هغوی دروس په اسلحه او مرسته پـه سردار داؤد بانـدې کودتا وکړی او د طـاقت په ذریعه په حکومت باندی قبضه وکـړی ، ځـکه هغوی خپـل پروګــرام تــه عملی بڼه ورکړه .

غالباً الله(ج) ته ځمونږ ازمیښت منظور وه چې سره د لــویی منصوبې او لـه فــوځ او عـوامـو سره پـه رابطه‌جوړولو سره‌سره بیاهم‌له موږ نه مخکې کمونستانو کودتا وکړه ، حال دا چې مـوږ د پـوره پـروګرام دي پکار اچولو په تیارئ کی ؤو .

بل طرف ته د د همزنګ جیل نه د خپلو ملګرو د خلاصولو لپاره چې مـوږ کـوم تـونل ایستلو هغه د مخبری په وجه باندی افشاء شو، زه په هغه‌وخت کی‌له جیل نـه بهـروم او د بهر انتظام زما پـه غاړه ؤ دا تونل چې د یوه نانوائی له دو کان نه کینستل شوی ؤ اګـرچې افشاء شـو خـو د دی د ویستونکو کسانو څه پته و نـه لګیـده او حکومت د دوی پـه نیولو کی ناکام پاتی شو .

له مخکینوتیرشووکلونو داوږ د جدوجهد نه‌وروسته ځما(۱۱)نځوانی ملګری په شهادت رسیدلی اودابتدائی ۱۲ کسانو له ډلی څخه یواځې زه ژوندی پاتی‌شوی یم شاید الله (ج) ته تراوسه پوری ما تـه د شهادت مرګ نه وی منظـور شـوی . هغـوی له مانـه ډیـر غـوره او بهتر ؤو چـې له خپـل حقیقی خـالق سـره یو ځای شول .

د ګرم چا یو غـوړپ سره یوځو شیبې غلی شوم او بیا می یوه بله پوښتنه ترینه وکړه چې د مجاهدینو د اختلاف او مختلفو تنظیمونـو تـرمنځ د کشمکش په باب ؤه .

په ابتدا کی خو یواځې یوه تنظیم کار شروع کړی وه نو بیا د نورو تنظیمونو ابتدا څنګه وشوه اوپدوی کی د اختلافاتو نوعیت څه‌دی ؟ دا سهار غونډه له فتح کیدونـه وروسته پـه مختلفو تنظیمونو کی چـه کوم کشمکشونه وشول د هغه‌وجه‌څه‌وه؟ ایا وروستی اتحادبه هم عارضی ثابت شی څرنګه چه مخکینی دری اتحادونه جوړ شو او بیرته رنګ شول ؟

له‌ځواب‌ور کولونه‌مخکې انجنیر حکمتیارصاحب یوه‌لحظه فکروکړ دهغه په‌تنهه‌باندی خطونه‌دهغو دژوروسوچونو ښکارندوی وو، حکمتیارصاحب وویل داصیځی خبره ده‌چې

د بشری هستی دغلو (کمونستانو) لاس
زمونږ ساشومان هم زوروی

مقاوست یوه ګوند شروع کـړی ؤ لیکن کله نه چې د مهاجرینو تعداد زیات شو نوله افغانستان نه راغلو خلکو د متعددو تنظیمونوبنستونه کیښودل، دتنظیمونو جوړیـدل مطلب هرګز دانـه ده چې د هغوی ټـولو نظریات او مقاصد هم مختلف دی ، په اصل کی موږ په یوه متفرق او منتشر قوم کی خپل تحریک شروع کـړی و ، دا تنظیمونه په اصل کی د تاریخی‌عواملو نتیجه ده ، څرنګه چې ځمونږ قوم په بنیادی ډول‌تیت

او د قبائلي ساخت حامل ؤ نوځکه د مختلفو تنظیمونو وجودهم د دی چلګات پهمنځ کی مخی ته راغلل، ځمونږ قوم د ښه قیادت او دینی مصالحو څخه ترکافی اندازی پوری محروم ؤ نـو ځـکه د جهاد په وخت کی ددی قوم یوځای کول او د تنظیمونو عمل جاری پاتی شو، دا یوه لویه خبره ده چی ټول افغان قوم د خپل ماضی او سابقه حالاتو باوجود یـواځی د او و تنظیمونـو ملاتړ کوی ، تاسو د یوه داسی قوم څخه چی که هم د تنظیم او تربیت له پړاؤ نه نه دی تیر شوی څنګه توقع کولای شـی چی هغوی د جنګ شـروع کیدو سره سم دیوه بیرغ او یوهلیډر تر قیادت لاندی متحد شی او د تربیت یافته فوځ په څیر جنګ وکړی، دا وضع دومره طبیعی ده چی په هر یو ملک کی همیشه د یـوه نـه زیات تنظیمونـه موجـود پاتی شـوی که هغوی د جمهوریت لپاره جنګ کړیدی یاد آزادی ګټلو لپاره په هیڅ یو هیواد کی هم د خلکو په یو صف کی ودرول څه آسان کار نه دی، د دی لپاره د امن په حالاتو کی هم یو اوږ د وخت پکار دی او موږ خو د جنګ په وخت کی دا کار کوو، تر کوم حده پوری چی دمجاهدینو ترمنځ داختلافاتو پر افواهاتو تعلق دی نو دا د دښمنانو پروپیګنډه ده په خاص ډول د هغو خلکو چی هغوی دانه غواړی چی په اسلامی نړی کی خصوصاً او په دین کی عموماً دجهاد سمه بنه مخی ته راشی .

تر کـوم حده پوری چی د اسا رغونـډ تعلق دی نـو هغـه یـو شخصی او عـارضی اختلاف و چـی له سیاسی او نظریاتی معاملاتو سره یې څه اړیکی نه لرلی دا اختلاف په همغه وخت کی لری کړی شوی دی ، داسی خبری خو پـــه هـر ځـای او په هر وخت کی کیږی آخر پدی جنګ کی انسان جنګیږی څه ملائکی خوندی ، په ځینو وختونو کی د طبیعتونو اختلاف هم معاملات راپاروی ، لیکن شکردی چی ټول تنظیمونه او مجاهدین په خپل مرام او نصب العین کی متفق دی او د هغوی ذهنونه په پوره ډول پاک دی ، د دی تنظیمونو بیا بیا اتحاد د دی ثبوت ښکار ندوی دی چی دوی ټول یو لاس کیدل غواړی .

تر کومهچی د اتحادونو د جوړیدو او ړنګیدو سوال دی په حقیقت کی د هغه ترشا متعدد عوامل دي . د پردی ترشا ډیر پټ لاسونـه داسی کار کوي چی هغوی نه غـواړي د مجـاهـدینو تـرمنځ د اتحـاد یو صورت پیدا شي او مجاهـدین دی په ګډه د دښمن پرخلاف عملیات وکړي ، د هغوی دا کوښښ دی چی پـه افغانستان کی دی متعـدد او بیلا بیـل ګروپونه وي .

د اسار غـونډ په اصل کی حزب اسلامی فتح کړی و خو ځینو کسانو دا نه خو ښوله چی د دې فتحی د افتخار تاج دی د حزب اسلامی په سر شی او په ټوله وسله ، مال او غنیمت باندې دی قبضه وکړي. نو ځـکه پـدی وخت کی هغوی د قبائلی او عـلاقه ئی تعصباتو پارول شروع کـړل چی دا یو بی ګټی عمل وه او د خدای په لوی فضل وکـرم سره د دی څه اثر په مجاهدینو باندې ونه شو .

زمـــا بل سوال دا دی چی د افغانستان د روان جهاد حالات څرنګه څیړی ؟!

آیـا د روسانو د مداخلت پـه ابتــدائی ورځو کی حالات د مجاهدینو په ګټه ؤ او که اوس ؟

د مرکزی افغانستان هغه ولایتونه چی د هـزاره جاتو په نامه یادیږي یعنی غور ، بامیان او اروزګان، کی جنګ نشتـه . پـردی سربـیره د شمالي افغانستان ولایتونه له بدخشان نه تر هراته پوری و ولایتونه چی روس ته نږدی واقع دي هلته هم د جنګ څـه زیات شدت نه ښکاری همدا راز ایران ته نږدې شرق ولایتونه لکه هرات فراه او نیمروز کی هم جنګ سوړ ښکاری ، د جنګ زیات خبرونـه یواځی د افغانستان نه له هغو ولایتونو څخه راځی چی پاکستان ته نږدی واقـع دي لکه د بدخشان او نیمـروز ترمنځ

واقع و ولایتونه که پدی باب څه رڼا واچوی شه په وي ؟

له دی نه پرته هیله ده د ځاځیسو د چاونی په علاقه کی تیرشوی خونړی جنګ چی د یوی میاشتی نه ئی زیات دوام وکړ تفصیلات را کړی ؟

حکمتیار ترحکیمانه تبسم وروسته په پوره داډ سره خپل ځواب. داسی پیل کړ :

د خدای په فضل د جهاد د وروستیو حالاتو په پرتله اوس موږ ډیر په ښه حالت کی یو ، موږ د پخوا په نسبت ډیر قوی او منظم شوي یو وسائل موهم ډیر زیات شویدي ، زموږ محاذونه او مورچلی هم د پخوا په نسبت ډیری پراخ او منظمی شوي ، تاسو به یقیناً پوهیږی چی د دی جهاد په پیل کی زموږ د ملګرو شمیر ډیر لږ او وسائل ډیر محدود وو . اوس د خدای (ج) په نه ختمیدونکی رحم او کرم یواځی د حزب اسلامی سره لږ تر لږه تر یونیم لکو نه زیات مسلح او جنګیالیو مجاهدینو یو منظم قوت موجود دي . اوس موږ د افغانستان په هر یو ځای کی داسی مرکزونه او غونډونه لرو چی خپله دفاع پخپله کولای شي او بالکل د یو منظم فوځ په څیر د دښمن مقابله کوي .

یو وخت داسی هم و چی موږ له یوه کلی نه بل ته په ډاډه نه شو تللی او د شپی هم تګ او راتګ ګران وو ، خو اوس د لوی خدای (ج) په فضل او کرم سره د افغانستان په سلوکی نوي برخه د مجاهدینو په کنترول کی ده ، اوس موږ د روسیانو په چونیو او اډو باندی بریدونه کوو ، په ښارونو کی د ننه، روسی سفارتخانو ، هوائی اډو او حکومتی مرکزونو باندي بریالی حملی کوو ،

اوس موږ د ګوریلائی جنګ له پړاونه تیر شوي یو ، موږ په افغانستان کی اوس په جبهه ئی توګه جنګیږو .

د هزاره جاتو د سیمی په باره کی باید ووایو چی هلته هم مجاهدین بریالی دي خو چیرته چی د دښمن پوځ او حکومتی مرکزونه نه وي ، نو موږ جنګ له چا سره وکړو .

الحمد لله د مرکزی افغانستان په علاقو کی د حکومت اثرات بالکل ختم کړی شوي او هغه علاقی د خدای په فضل او کرم سره د مجاهدینو په قبضه کی دي .

ترکومه چی د افغانستان په شمال او مشرق ولایتونو پوری تعلق دي په حقیقت کی هغه سیمی ډیری زیاتی جنګی علاقی دي او هلته ډیر سخت جنګ روان دي تاسو یقین وکړی چی د جنوبی علاقو په نسبت په شمالی علاقوکی ډیر زیات فعالیت روان دي اصل مسئله داده چی له شمالی ولایتونو څخه د جنګ خبرونه تاسو ته نه رسیږي پدی وجه د هغه ځای حالات ستاسو له نظرونو څخه پټ پاتی شویدي .

څرنګه چیپه پکتیا او پکتیکا کی کیدونکو جنګونو خبرونه تاسو ته په آسانی سره رسیږی نو ځکه دا علاقی په جنګی لحاظ سره ډیری ګرمی منطقی ګڼل کیږی دوهمه خبره داده چی له جنوبی علاقونه زیاتو خلکو پاکستان ته هجرت کړی اودهغوی راتګ هم د ډیرو خبرونو سبب ګرځیدلی شاید تاسی به ددې خبرې په آوریدو حیران پاتی شی چی د کونړ ننګرهار ، پکتیا او پکتیکا په ولایتونو کی له کیدونکو جګړونه زیاتی جګړې یواځی د بغلان په ولایت کی کیږي ، کندوز ، مزار ، تخار ، سمنګان او داسی نور ولایتونه داسی دي چی د سختو جګړو مرکزونه ګڼل کیږی همدا راز د هرات اکثره برخی د مجاهدینو په لاس کی دی او هغوي په دښمن باندې کامیاب بریدونه کوي . خبره صرف دومره ده چی د هغو علاقو خبرونه تاسی ته نه رسیږي نو ځکه دا تأثیر پیدا شوې چی ګوندې هلته د جنګ شدت نشته .

په ځاځی میدان باندی د دښمن د حملی مقصد یوه طرف ته داؤ چی هغه نړیوالو ته د اوښی چی

اصل جنگ د افغانستان په منځینو سیمو کی ختم شوې او د پاکستان سرحدونو ته را نږدی شوی او مجاهدین کمزوری شوي له بل پلوه ئی هدف په پاکستان باندې فشار آچول ؤ لدی علاوه دښمن غوښتل چی د مجاهدینو لارې بندی کړی او د ځینی ترراتلو ځنکی ځکی خپلو محصورو عسکروته امداد او کومک ورسوي ، نو ځکه روسیانو په کنړ ، ننگرهار ، پکتیا او پکتیکا باندی حملی وکړې، لدی امله چی د ځاځیو چونئ د مجاهدینو یوه مهمه لاره ده نو ځکه د ډیری لویی قوې په واسطه چی پکی د وو فرقو گډون کړی ؤ حمله وکړه .

د حملی پیل کواو نه وړاندې په کابل رادیو کی دا اعلانونه کیدل چی «زمونږ بهادر پوځیان د اشرارو (!) سرحدی مرکزونو د ویجاړولو او د هغوی د ټکولو لپاره پرمخ تگ کوی او په یوه اونی کی د ننه د ننه به د پاکستان په سرحد کی د لوی اختر ورځی و لمانځی» مجاهدین د دښمن له پوځ سره ۲۵ شپې او ورځې پرله پسی وجنگیدل او یواځی د نری په علاقه کی تر ۱۵ ورځو پوری جنگ روان وه چی په نتیجه کی د دښمن اوه جازونه ۱۰۵ ټانکونه او نور پوځی موټر ویجاړ شول ، دا دا علاقه اوس هم د مجاهدینو په قبضه کی ده ، فوځی قافلی ته زبردسته ماته ورکړی شوه ، دا قافلی چی د کابل په لوری تیښتی ته مجبوری شوی په لاره کی مجاهدینو ورباندې ریزمریزوونکی بریدونه وکړل ، دا حملی د سکندر خیل ، میرزکی ، نری ، سید کرم او لوگر په علاقو کی وشوی .

زما بله پوښتنه د مجاهدینو د سیاسی کړندود او تگلاری په برخه کی ده ، دا صحیح خبره ده چی جنگی حالات د مجاهدینو په گټه دی خو تاسی پدی پوهیږي چی تر هغی چی یوه اغیزمنه سیاسی تگلاره پیدا نه کړی نو د ملگرو ملتونو په سطحه

ستاسو حمایت او تائید نه زیاتیږی ـ مثلاً فلسطینانو په خپل کار کی په بین‌المللی سطحه کی خاص پرمختګ کړیدي ، همدارنګه په الجزائر کی انقلابیانو سیاسی محاذ ته خاص اهمیت ورکړی و ، خو په افغانستان کی داسی په نظر نه راځی د اولی ؟

حکمتیار صاحب په ځواب کی وفرمایل ترکومه ځایه چی د فلسطین د مسئلی تعلق دی، نو دامسئله یواځی د فلسطینیانو نه ده بلکی پدی کی ټول منځنی ختیځ شامل دی ، په یوه عربی علاقه باندې د یهودی حاکمیت وجود بالکل علیحده شی دی، او په ګوندی هیواد کی د بهرنیو پوځونو مداخلت بل شی .

ستاسی دی ته هم پام دی که نه چی فلسطین خو مره په سیاسی میدان‌کی وړاندې دې همدومره په جنګی میدان کی وروسته دی ، ګڼو حکومتونو او قوتونو له هغوی سره مستقله مرسته خپله پالیسی ګرځولی وه ، موږ ته ترټولو لویه مسئله داده چی د نړی یو حکومت هم په سیاسی محاذ کی زموږ منستقل ملاتړ نه کوی او په بین المللی سطحه ئی هم نه وړاندې کوي پردی سربیره په افغانستان کی داسی منظم سیاسی قوتونه هم موجود نه وُو چی د وضعی بدلون ئی احساس کړی وای او په سیاسی محاذ ئی خپل کار مخ په وړاندې بوولی وای .

همدا وجه ده چی مجاهدین سره لدي چی په جنګی معاملاتو کی له فلسطین نه ډیر وړاندې دی خو په سیاسی ډګر کی ډیر وروسته دي ، لیکن بیا هم موږ اوس پدی معامله کی پرمخ ... نوو ، ملګرو ملتونو او نورو دوستو هیوادو ته‌زما مخکینی سفر هم ددي مقصد په خاطر شوی وُ ، موږ غواړو چی په ملګرو ملتونو کی د افغانستان چوکی مجاهدینو ته ورکړي شی ـ همدا راز په دوستو هیوادو کی د ګوډاګی حکومت سفارتخانی وتړلی‌شي اود هغه پرځای د افغانانو د نماینده تنظیمونو د اتحاد دفترونه په رسمی‌ډول

کمونستان زموږ له سپین ږیرونه هم ویریږی .

پرانیزي ، پدی سلسله کی زموږ دا دلیل دی چی څرنګه چی د کارمل حکومت په سیاسی لحاظ سره ناجائز دې او خپل قانونی وجود نه شی ثابتولی .

نو څکه هغه د افغانانو د نماینده حیثیت هم نه لري ، لدی کبله دی په ملګرو ملتو کی د افغان ولس برحقه نمایندګانو یعنی اتحاد اسلامی ته د ځای ورکړی شی ، انشاء الله موږ پوره امید لرو چی په بین المللی سطحه به موږ د خپلی برحقی نمایندګی په ترلاسه کولو کی بریالی شو .

د جینوا دمذاکرو په هکله‌مو سیاسی نظرڅنګه‌دی؟ آیا پاکستان دی ته حاضر دی چی د ببرک له رژیم سره نیغ په نیغه معاهده وکړي ، تاسو پدی معامله کی سره لدی چی مهم طرف یاست‌په‌خبرو اترو کی ګډون نه لری ، آیا پداسی حالت کی به دا خبری ګټوری ثابتی شی ؟

حکمتیار صاحب په ځواب کی وفرمایل : دا خبری اتری‌له وخت نه مخکی پیل‌شوي‌یوی خوا ته روس په افغانستان کی خپل پوځیان زیاتوي او د افغانستان په ښارونو او کلیو باندی‌ئی خپلی وحشیانه

بمباری تشدید کړی بل لوری ته روس دا خبری اتري د یوی داسی پردې په حیثیت استعمالوي چي د هغی ترشا خپل جارحیت ته ادامه ورکړي ، که چیری روس پدی خبرو اترو کی مخلص وائی نو هغه به د خپلو ظالمانه حرکاتو څخه لاس آخستی وای او ټول زور به ئی په خبرو اترو کی په کار اچولی وو په حقیقت کی د خپل ځان پرخلاف د اړیوال نفرت دکمولو او پاکستان ته د سیاسی فشار په ذریعه د ماتی ورکولو په خاطر دا خبرې اترې شروع کړي دي .

پدی سلسله کی دوهمه مهمه خبره داده چي پدی خبرو اترو کی پاکستان اصلی طرف نه دي پدی کی سهم طرف پخپله مجاهدین او روس دی ، ترڅو چي د دواړو ترمنځ تصفیه نه وی شوی دا مسئله نه شي حل کیدای، موږ دغو خبرواترو ته څه امیدواری نه لرو او نه دی په وجه موږ له خپل اصلی مقصد نه کرځیدلی یو که چیری تاسی د روس په چل ول باندی غور وکړی نو دا به درته په ډاګه شی چی روسانو په ابتدا کی هغه خپلو د هیوادوالود ډاډینې لپاره دا بهانه وکړه چي په افغانستان باندی یرغل نه دی شوی بلکی د ځو تنو اشرارو (!) د ټکولو او په افغانستان کی د تعمیراتی کارونو لپاره د هغه ځای د حکومت په بلنه موږ خپل پوځ ورلیږلی .

خو ، څرنګه ئی چي د شپږو کلو په موده کی شوی ځانی او مالی تاوانونه د خپلو وګړونه پټ نه کړای شول نو اوس دا بهانه کوي چي زموږ جنوبی سرحداتو ته خطره پیدا شوی وه نو ځکه موږ د خپلو سرحداتو د ساتلو او په افغانستان کی د کمونستو ورونو د حفاظت لپاره خپل پوځ افغانستان ته ورلیږلی دی .

دا خبره د سوال وړده ، چي آیا یواځی جنوبی سرحدونو ته د خطری د احتمال لری کولو او د خپلو ځوتنو ملګرو د بچولو لپاره هغوی دافغانستان بې ګناه عوام شهیدان او په لکونو کسان ئی هجرت ته ولی مجبور کړل ، آیا دا وجه دومره کافي وه چي هغوی خپل پوځ ته د افغانستان بې ګناه او غریبو خلکو د ختمولو او د هغوی د کور ، کلی او فصلونو د سوزولو قومانده ورکړه ؟ یو عام روسی پوځی دا جنګ ظالمانه تجاوز ګڼی او د روس ولس دغی جنګ ته ذهناً تیار نه دي .

روسان افغانستان ته د خپل پوځ د لیږلو د توجیه لپاره یو دلیل دا وړاندی کوی چي ګویا هغوی کورنی شخړی د خطری مخنیوی لپاره راغلی ، لیکن د غور خبره ده چي په افغانستان کی خانه جنګی د روسیانو د راتلو نه وروسته پیل شوه د هغوی تر راتلونه مخکی د افغانستان کمونیستان هیڅ چا نه وو وژلی نو بیا د خانه جنګی خطره څنګه پیدا کیده .

د جناب حکمتیار تردی فکر انګیزو خبرو اترو وروسته ما د یوی ایلی پوښتنې جرأت وکړ او پوښتنه‌ی تری‌نه وکړه چي په افغانستان کی به د مجاهدینو حکومت څه ډول وي ؟ آیا هغه به پوره ډول د مجاهدینو حکومت وي او که به د سیکولریستانو په ګډون یو مخلوط حکومت جوړیږي ؟

دی پوښتنې ته حکمتیار صاحب داسی ځواب. ورکړ : په افغانستان‌کی د حکومت جوړولو ذمه وار پخپله د افغان ولس دی بل چا ته پکی د فکر کولو څه ضرورت نشته افغان مسلمان ملت چي د هر چا قیادت قبول کړی حکومت به هم د هغوی وي .

نن هم افغان ولس خپل حقیقی قائد پیژندلی او ټول قوم ځانی او مالی قربانی ورکوي ، انشاء الله موږ به د افغانستان د یو آزاد ناپیلی او اسلامی حکومت د جوړیدو لپاره هلی‌ځلی کوو ، داسی چي دا هیواد به له هیڅ بلاکو نو سره پوځی او سیاسی معاهدی ونه لری په افغانستان کی به یواځی اسلامی

حکومت وی او د اسلام مقدس دین بـه د خلکو د ژوند نظام وي .

نن هم پدې جهاد کې د افغانستان خلک یواځې د اسلام لپاره خپله وینه تو یوی، افغانانو ته د اسلام نه پرته بله کومه نظریه د قبول وړنه ده که چیرې له دې جهاد نه اسلامي روح وایستلی شي نو بیا به له هغه هدف نه چې پــه لکونو شهیدانو ئی لپـاره وینه ورکړې څه پاتې شي .

مابیااوپوښتل آیاددې خبرې امکان نشته چې په راتلونکې به د اقتدار ترلاسه کولو لپاره مختلف تنظیمونه ځپلو کې وربنډلې چې هغوی هیڅ کله هم پـه داسې معاملاتو کې چې له اسلام سره څـه تعلق ونـه لري وینې تو یولو او سر ورکولو ته چمتو شي ، د اقتدار په باب فیصله په څرنګه چې ما مخکې درته وویل افغان عوام ځپله کوي، که چیرې موږ د دومره قوی دښمن په خلاف او د تاریخ عظیم ترین جنګ په پوره اتحاد او یووالي سره کـولی شو نـو د دښمـن ترایستلو وروسته هم موږ د خپلو فیصلو کولـو صلاحیت ځپله لرو . دا خو هسې هم بعدې خبرې دي او فعلاً خو زموږ لمړنی مقصد له خپلې خـاورې نه د روسیـانو

دا هغه وخت وُچې کمونستانو‌ته د سیاسي کارکولو پوره آزادي وه ، په اصل کې روسي حکومت له ظاهر شاه سره د سیاسي او پوځي معاهدو د تړون په وخت کې دا شرط لګولی وه چې باید په افغانستان کې د ننه کمونستانو ته د کارکولو ، د اخبار چاپولو ، دفـتر جوړولو ، د غونډو دایرولو د غړو پیدا کولو او د پارټۍ په د ننه کې د عام انتخابات کولو پوره آزادي وی ، نو ځکه دوی په نتیجه کې پـه افغانستان کې دکمونیزم لپاره کارکول او د هغه په ذریعه قدرت حاصلولو خواهش لرونکوکسانو یوه مخصوصه ډله پیدا شوه چې د خپلو ذاتي او ګروهي ګتو لپاره یې پـه په فعال ډول سره کار کاوه .

سره وجنګیږي ، څو لکه مجاهدین به ځپلو کې د خپلو سیاسي معاملاتو دتحفظ لپاره یو تربله ووژني؟ دمجاهدینو راتلونکې به څنګه شي آیا هغوی بـه د افغانستان په پوځ کې ونیولی شي ؟ او که به له هغوی نـه وسله واخیستی شي او خپلو کورونو ته به ولیږلی شي ؟

هغه وویل :

دا هسې قیاسات دي چې‌له وخت‌نه مخکې د اندازو په بنیاد را ولاړ شوي تر کومه ځـایه چې مسئله په حقیقي واقعیتونو پورې اړه لري له دې تیرو اتوکو راهیسې موږ ته داسې یوه نښه په لاس نه ده راغلې چې د مجاهدینو تنظیمونه ځپلو کې یو تربله لاس پـه ګریوان شي او یو د بل وینه توی کړي له دې نه علاوه مجاهدینو او عامو خلکوته جهاد دومره بصیرت ایستل دي او د دې لپاره موږ په خپـل ټول توان د الله په لاره کې د خپلې وینې آخرې څاڅکې تویولو ته هم په پوره ډول تیاریو تر کومه ځایه پورې چې مسئله په مسلحو مجاهدینو پورې تعلق لري ، افغان هر یو وګړی که ډاکټر دی او که دهقان انجنیر دی یا بل کارګر په عملي جهاد کې شریک دي .

انشاء الله د افغانستان د آزادیدلو نـه وروسته به هر یو سړی ځپل خپل کار باندې وتاکل شي او پاتې مجاهدین بـه په پوځ کې مقرر کـړای شي ځکه چې موږ د یو آزاد او با اختیاره افغانستان د ساتنې لپاره یوه‌تربیت یافته او جنګیالی پوځ ته ضرورت لرو .

زمـا بله پوښتنه د مهاجرینو پرخلاف دکمونستانو د پروپاګند پـه باب ده ، هغوي وائي چې مهاجرین

په پاکستان کی جائیدادونه آخلی او هغوی خپل هیواد ته د بیرته تلو اراده نه لري همدا راز پـه پاکستان کی د نشه‌ئی موادو ډیربښت هم د هغوی په وجه شویدی تاسو پدی باندی څه ډول تبصره کوی؟

حکمتیار وویل :

په اصل کی دا ټولی خبری ترپوی خاصی منصوبی لاندی پـه پاکستان او نورو ځایونو کی خوریږي ، داسی خبرې هغه خلک کوي چی پـه پاکستان کی هم د افغانستان په څیر حالات پیدا کول غواړي. ترڅو دلتـه د روسانـو پښی ټینگی شي او د هغوی حامیان د اقتدار واگی په لاس کی ونیسی ، زه تاسی ته اطمینان درکـوم چی مهاجـرین د پاکستان پـه سرحدي سیمو کی موجـود نه وي نو سبا به روسیان دلته هم را رسیږی ، زه دا منم چی د مهاجرینو پـه وجه پاکستانیانو ته څه مشکلات شته خو تاسی یقین وکړی چی دا مشکلات ترهغو مسائلو ډیرکم دي چی خدا ناخواسته دلته د روسانو د راتگ په صورت کی دوی ورسره مخامخ کیـږي . زه نه پوهیږم چی هغه مهاجر چی د خپل دین او عزت په خاطر خپل مال ، شتمنی او ټول شیان قربان کړي وي هغه به پاکستان ته د نقصان رسولـو فکـر وکـړي ؟ دا هیڅکله نه شی کیدای ، دا هسی افواهات دی .

د مهاجـرینو د بیرته ستنیدو په باب بایـد وواېم چی دا خبره به هر هغه وخت ډیـره غوره وی چی د افغانستان تر آزادیدونه وروسته مهاجر له بیرته تلو نـه انکاروکړي ، که چیری پـه هغه وخت کی کوم مهاجر دلته پاتی شی نو تاسی بی شکه هغه په ډیکو وباسی ، او د هغوی پـه خلاف مظاهـري او مرکی وکړی جائیداد ترینه واخلي او کورونو ته ئي اور ولگوي ـ لیکن له دی نه مخکی به د پاکستان د کـوم پښتون ، بلوچ ، سندهي او پنجابي غیرت ، دا اجـازه ورکړی چی هغوی د یوه داسی غریب او بی وسه سړي چی د خپل عـزت او د دین په خاطر خپل هرڅه پریښی وي او هغوی ته پناه راوړي له ، خپل کورڅخه یی وباسي د اسلامی اخلاقـو لرووڼکی خو پرېږېده حتی یو عام انسان هم له دارنگه کار کولو څخه شرم کوي ، دلتـه یوه آوازه دا هم گډه شوې ده چی پـه پاکستان کی د مهاجرینو په جامه کی د خاد کسان داخل شوي دي ، دا سراسر غلطه آوازه ده ځکه چی روسان دلته پخپله داسی پاکستانی اجنټان لري چی د دې ځای له لاری او گودر او ټولنی‌نه ښه با خبره دي او په ښه ډول سره د تخریب او ورانکاری کارونه کولای شي . روسیانو ته پخپله په افغانستان کی د خاد کسانو تـه ډیر زیات ضرورت دې چی پاکستـان‌ته‌دورانکاری‌لپاره‌داسی‌کسان‌ولیږي چی هغوی‌دپاکستان‌له لاروگودرونه خبرنه وي.

بل دا چی پاکستان کی پراته ۳۰ لکه مهاجرین د قبیلی کورنی او سیمی له مخی یو بل ډیر ښه پیژنی هغوی پوهیږي چی پـه افغانستان کی د هغوی پـه سیمه کی څوک کمونیستان دي مهاجرین پخپله د انتقام په لمبو کی سوزي که چیري کوم کمونست د هغوی مخی ته راشي نو ژوندی ترینه نه شی وتلی .

بله پوښتنه ملگرو ملتونو ته ستاسی د سفر په باب ده ، آوریدلی می دي چی تاسو د صدر ریگـن او د کانگرس له ممبرانو سره د لیدنی څخه انکارکړیدي.

حکمتیار : په اصل کی نیویارک ته د تللونه مخکی موږ په پاکستان کی پریس کانفرنس ته د دې خبرې پوره وضاحت کـړی ؤ چی زمونږ د سفر یواځې په ملگرو ملتو کی د افغان مجاهدینو د نمایندگی په سلسله کی دي او موږ پدی وخت کی د بل هیڅ ډول رسمی ملاقاتونو تصمیم نـه لرو ، کله چی په نیویـارک کی موږ ته د سپینی مانی څخه د صدر ریگن له طرفـه د ملاقات دعوت ورسید نو موږ هغه په اصولی ډول سره ردکړ ، موږ پوهیدو چی د دی ملاقات په وجه شک او شبهې پیدا کیږی او اسلامی اصالت ته هم صدمه رسوي، پردی سربیره هغه ملک چی دافغانستان

این هم نمونه ی از هزاران گونه وسایل و مهمات کشنده روسها که روزمره بر ملت مظلوم ماشلیک میشود .

قضیه ددوو لویوقوتونو ترمنځ د کشمکش په زاویه کې مطالعه کوی هغوي دا ملاقاتونه د دی سلسلی یوه برخه گڼي ، بله دا چې موږ دا نه غواړو چې افغانستان آزادیدلو وروسته د ویتنام په څیر شي چې له یو لوی قوت سره وجنگیدل خو د بل لوی قوت د اسارت ځنځیرئی غاړی ته ورولوید .

موږ دا جهاد په ډیرو سختو حالاتو کی پیل کړی ؤ، موږ دا دشرق او غرب ترمنځ د کشمکش جوړیدو ته نه پریږدو ، موږ د دی جهاد له پیل نه تر آخره پوری د اسلامیت او د استقلال هیله من . یو څموږ په فکر دا فیصله د جهاد د لا تقویت باعث گرځي ، د کانگرس ځینو غړو هم موږ ته څه لیکونه را استولي ؤ خو موږ هغوی ته هم همدا ځواب ور کړ. دی پ ځان متکی او ډاډ نه ډک دغه وضاحت نه وروسته مورد جناب حکمتیار صاحب نه په یوه نازکه موضوع باندی د نظر اظهارولو غوښتنه وکړه ، ما ورته وویل د دی خبری ډیر زیات پروپاگند کیږی چی مجاهدینو ته امریکائی وسله او مرسته ورکول کیږی او ددی لپاره C.I.A هرکال د خپلی بودجی په وخت کی اعلان کوي ، وروسته د سناد خارجه تعلقاتو کمیټی ځینو غړو له خوا نه دا تجویز مخی ته راغی چی د افغان مجاهدینو د کومک لپاره غله او وسله دی نیغ په نیغه د طیارو په ذریعه د ننه افغانستان ته ورسولی شي ترڅو ټول جهاد د امریکایانو تر کنټرول لاندی راشي د دی پروپا گند په هکله تاسی څه ویل غواړی ؟

د دی پوښتنی په ځواب کی حکمتیار صاحب داسی وویل: زه پخپله هم دا پوښتنه لرم چی امریکائی امداد چاته ور کړی شویدی موږ پخپله د ځواب په لټه کی یو خو لا تراوسه پوری څه معقول ځواب نه دی را کړی شوي ، د پاکستان حکومت له پیل نه تر آخره پوری څو څو ځلی اعلان کړی چی موږ چاته دا اجازه نه ورکوو چی هغوی مجاهدینو ته وسله او کومک ورکړی او پدی باندی ډیر سخت پابند هم

پاتی په ۸۷ مخ کی

سیاسي، تبصره

له ګوربچاکوفه ترګربه‌چوفه (۱)

افغانستان دبوروسي دیورند په درشل کې

محمد زمان مزمل

پرون هم زمونږ هیواد افغانستان د سمسور هند په لارکی پروت و . هلته چې لوی انګریز خیتیه اچولی وه نن هم هغه د خلیج د اباد سیمې په لارکی پروت دی هلته‌چی امریکا ډیره لګولی !او دا د روسانو د استعمار د پاره ګرانکار دی :

پوره یوقرن - د۱۸ مې پیړی‌داول نه تر۱۹ مې‌پیړی‌پورې زمونږهیواد د انګلیس او تزاری استعمار دسیالیو په منځ کی د جنګ په یوه میدان بدل شوی وه هلته چې د دوارو استعماری هیوادو جاسوسانو اوبریځو په دی ملک کی غوبل جوړ کړی وه کله روسی تزاریانو د ویتکاویچ په ترپکو په هند کی اقتدارچیان په ویره کی غورځول ترڅو په اروپاکی د هغوی نه امتیاز واخلی او کله هم بیا بنزد انګلیس نمائنده په‌افغانستان‌کی داسې‌حرکات او اجراءات ترسره‌کول چې روسې واکمنان په دی ویره‌کی واچوی چې افغانستان به دانګلیس‌په مرسته د روس په آسیایي مستعمروکی مزاحمت پیدا کړی ، کله روسی جنرال استولیتف د شیر علی خان د کمزوری وضعیت نه په استفادی هغه شمال ته راکیښی ، او کله بیا دهند انګلیسی حاکم هغه دچمبرلین په استقبال مخ په جنوب راکیښی .

پوره یوه پیړی دی استعماری قدرتونو دغه کمزوری‌هیواد دیوی منځنی ثابتی نقطی په عنوان ناآرام کړی وه ، پردی ناروا کشمکش کی هغه دانګلیس سره دری خونړیو جګړو ته ننوت . هیواد وران ، بچیان‌ئی شهیدان شول هلته چې روسی طرف په پوره پستی ددی جګړو ننداره کوله ، زکه هغوی د برلین په کانفرانس کی یو د بل‌په نسبت داډ اخستی وه ولی ملامت زمونږ ملت وه چې باید د انګلیس د جنګ د پاره هروخت چمتو وی .

د افغان اوانګلیس‌دجنګونونه‌روسانو هم ډیره ګټه پورته کړه زکه په منځنی آسیا کی‌ئی خپل نفوذ په‌ډیره سره سینه تینګ کړ او په هغه‌وخت کی دا د روسانو د پاره ډیره وه لکه څنګه چې د دی سیمی په رابطه ئی دانګلیس‌اوروسانوپه اروپائی اخ‌وډب کی هم ډیر امتیازات واخستل .

فرنګیانو ته هم ښه فرصت‌په‌لاس ورغلی وه د یوی خوا د سدوزیو او محمدزودخپل منځی‌خوریدلی اخ‌وډب او دبلی‌خوا د روسانو د توسعه طلبی څپی چې د سمرقند او خیوی پوری را رسیدلی وی ، هغوی په دی موفق کړل چې څنګه شا شجاع دوست محمد عبدالرحمان خان یعقوب خان غوندی په قدرت مین وګړی استخدام کړی او د هغوی پر کومک افغانستان ته لار پیدا او بالاخره د هغوی په برنامه موافقه هیواد تجزیه او د دیورنډختیځی‌خوا ته پراته مسلمانان په انګلیس خرڅ او دا دهند دآزادی مورچل‌په‌همدی محلی امیرانو مصروف وساتی او د یو

قرن د پاره د سیمې غیوروګړي دانګلیس
د فرهنګي او سیاسي خبیثوپروګرامونو
قرباني کړي .

مګرانګلیس دیوی خوا زمونږ هیواد
تجزیه او په آباد هند کې ئې د ځان
د پاره د اوږدي مودي زمینه برابره
کړه او د بلې خوائې روسي ته دافغان
ملت پـه مصروفیدو او پـه هغه
باندي د خپلو امیرانو د تسلط پـه
نتیجـه کي د دي موقع ورکـړه
چي د منځنۍ آسیا هیوادونه اشغال
او د افغانستان یوه آباده برخه پنجده
د خپل استعماري قلمرو برخه وګرځوي.
ولې په ۱۹۱۹ کال دانګلیس استعمار خوله
په افغانستان کې ماته او په ۱۹٤۷ کال
کې ئې د هند نیمه وچه پرېښودله او
په کرار کرار د انګلیس استعمار د اقتدار
تغرتول او ځای ئې امریکائي استعمار
ته چې په تخنیکي او اقتصادي لحاظ
ترهغه قوي او دانګلیسي استعمار دوېمه
کافي ده پرېښوده او په خلیج کې د نفتو
د پیمانه ذخائرو هندداستعماري قدرتونو
د جدي اخ ودب نه وایست او په
سیمه کې دانګلیسي او روسي اوږد کشمکش
ځای په خلیج کې د روسي او امریکا
اخ و ډب تـه خوشي کړ نو کـه
په ۱۹٤۷ کال کې چې د هندو چه آزاده
او د دې سیمې د اوږدونه داستعمار او
استعماري اوږد اخ او ډب ظاهري
دروند پیټي پورته شو په همدې کال
کې په منځنۍ ختیځ کې د اسرائیلو
د دولت تهداب کیښودل شو ترڅو
په دې آباده او غني سیمه کې د استعمار
د خرڅګیر رول اجراء او د سیمې
د ملتونو توجـه د خپلو هیوادو
دابادیدونه یوې داسې معاتې ته واړوي
چې امتیازات هم ور کړي او غلامي ئې
هم قبوله کړي .

رښتیاهم دې نوي استعماري جنجال
د عربو اسرائیلو څوپرله پسې جنګونه
منځته راوړل چې بالاخره د روسي
استعمار پـه خیانت اوضاع د امریکا
د تسلط په جهت کې د سیمې حالت نه
سولې او نه جنګ حالت ته پرېښوده
خو دا ځل روسانو کار د افغانستان
څخه پیل او لاس ئې پـه څو سلسلو
کودتاؤ پورې کړ چې دغو کودتاؤ
روسان ناڅاپـه د یو نظامي اشغال
د ضرورت په درشل کې ودرول ولې
نظامي اشغال هم په روسانو داسې
ورځ راوسته چـې نظامي اشغال
خوپرېیږده چې پـه کـړو کـودتاؤ
پښیـمانه او اوس غـواړي چـې
د یـوې لارې د دې تا تللي جنجال
څخه ځان خلاص کړي .

د کـودتایي ماجراګانو په لړکې
روسانو خپل دري وفادار نوکران
یو د بل پسې له منځه ویوړل ولې
حالات په افغانستان کې داسې خوا
ته روان دي چې هغوی اصلا هغه
نه غواړي .

د نظامي اشغال وروسته روسي
پوځ امتحان ورکړ ، هغه پوځ چې
په شرق اروپا کې ئې خپل شطارت
ښودلی وه هغه نن په افغانستان کې
خپله ناکامي د کریملین سره دلتـه
ژاړي د همدې ځایه په افغانستان
کې روسي مزدور رژیم د تسلط پـه
خاوره شوي ارمان کې دري روسي
واکمنان د مرګ پـه تبه ولویدل
چې وار ګورباچوف ته ورورسید !!
نه پوهیږم ګورباچوف پـه لمړي
ځـل کې زیات جـدي ښکاریده او
بلا وطنونه هم په افغانستان کې
د هغه د واکمنۍ په دوران کې وران
شول ولې د همدې کال په آخر کې
چې هغه د سرې امپراطورۍ داقتدار
په ماحول کې خپل ملګري کرار کرار
را تـول کـړل ښکاري د افغانستان
مسأله علی الاقل یوه نوې پړاؤ ته
ولیږدوی، ګوروچې د مسکو په پالیسي
کې پـه ظاهري لحاظ تفاوتونه را
برسیره شوي چې د پردا د ورځپاڼي
وروستۍ تبصري چـې پـه هغه کې

مزدور رژیم تــه د مخالفینــو ســره مستقیمو خبرو مشوره لوی ثبوت دی او بیا په کابل کی د مزدور رژیم وروستی تحولات هم د دی خبری سره نږدی ارتباط لری .

کیدای شی په جینوا کی د ریگان او گورباچوف خبری هم دافغانستان د قضیی پــه رابطه د روسانو د پاره د یو بل قدم اخیستو موقع ورکړی وی چی د همــدی ځایــه د قضیی د سیاسی حل روانی خبری تول په حقیقت کی د گورباچوف د پالیسی د بدلون په نتیجه کی د چا د پاره پــه زړه پوری او د چا د پاره د تشویش نه ډکی دی :

نه پوهیږم چی گورباچوف ته هم د گورچاکوف ۱۸٦٤ هغه خبره ورپه یاده شوی چی هغه تقریباً څه د پاسه سل کاله پخوا د یو روسی مسئوول پــه ځواب کی لیکلی وه : « د لمــړی نیکولای د ۱۸۳۸ کال خبره می په یاد ده چی افغانستان ئی د روسی د سیاسی قلمرو نــه چی هلته وکولای شی المان نفوذ وکړی بیخی بهر عنوان کړی وه » .

« گورچاکوف» یوځل نه څوځله د خپــل تره زامنو ــ انگلیسانو ته د دی ډاډ ورکـړی وه چی هغوی د افغانستان په شمال کی د موجوده اخ ودب هدف د ثابتو پولوتینگول دی هغوی پــه هیڅ صورت کی نــه غواړی دهند خواته نورور وړاندی شی د پرینگیانو مشر هم د دی اعتماد په نتیجه کی د انگلیس د هغه وخت پارلمان ته د روسانو نه تشویش درلودل د زړو بنځو تشویش وگانه ولی د انگلیس استعمار زړی بوډی اوس لیدلی چی هغه تشویش ځوان شویدی، د روسانو د پاره په منځنی آسیا کی د نورو مستعمرو لاس تــه راوړل یو مرحله ئی هدف وه او په همدی قانع وه چی هلته خپل نفوذ ټینگ کـړی ځکه په هغه وخت کی د هند خوا ته تگ د هغوی د پاره په نیولی شوی مستعمره کی جنجالونه زیاتوی. انگلیسانو هم دا چی په سمسور هنــد کی د بریتانیا د تاج بیرغ ورپیږی ډیـره گڼله او پــه منځنی آسیا کی د روس استعمار مصروفیدل غنیمت گڼل چی د دی مشابهی او مصلحتی ذهنیت نه د افغانستان په باب د دوو قدرتــونو پــه منځکی د یوی منځگړی سیمی مفکوری او په څـکای .

په اتلسمه پیـړی کی د روس او انگلیس ترمنځ روان اخ او ډب چی په آسیـا او اروپـا کی تود روان وه د افغانستان حــالات او موجودیت کله د دواړو قدرتو د تجاوز او تهدید خوا ته راښکل لا چی پــه نتیجه کی انگلیسانو یوځـل افغانستان اشغـال او بیائی «د دیورنــد» کرښی شاتــه پـرتی ځمکی غصب ، او روسانـو د پنجدی لویــه او سمسوره سیمــه اشغال کړه » او کله بیـا دی دواړو استعماری قدرتونو افغانستان د داسی یو جنگ نه د ډډی کولو پرخاطر چــی هلته دواړو خواؤ د ځان پــه گټه نه گڼله هغه د دوو استعماری قدرتــونو ترمنځ د یوی ثابتی پولی په توگه د تقسیم او تجاوز نه لیری پری ایښی .

د دی ټولو سره سره په افغانستان کی د انگلیس خونړی جنگونــه فقط د هند په وجه د خپل اقتدار د دامی په خاطر وه ولی نن چی روس د افغانستان د شپږ کلن اشغـال پــه ادامه کی په خلیج او هندی سمندر کی امریکائی استعـار تهدیـد وی او دا هیوادئی د یو خونړی جنگ پنجو ته سپارلی د دی هیواد مستقبل به کومی خواځی ؟

د گورباچوف نوی مانور داسی ښیی چی هغه نن د پرنگیانو پرونی رول ولوبوی او د یو نوی سیاسی حل د لاری ځان یوه روسی گندمک تــه ورسوی هلتــه چــی د مسئلی د تضمیـن شوی حـل پــه نامه د افغانستان په داخل کی د دیورند د توری کرښی په شان یوه بله سره کرښه چی افغانستان د یمن او کوریا، په څیر شمالی او جنوبی افغانستـان باندی تقسیم کړی وغزوی او د تیری پنجدی پرځنگ کی. یوه لویــه ســره پنجده چی علی الاقـل په بخـارا او سمرقند کی د جهاد د تأثیر مخنیوی

وکولای شی بیله او د خپل مستقیم اقتدار لاندی راولی لکه پرون چی روسانو د انګلیسانو په دیورنـد کی لاس درلود او شیر علی خان تـه‌ئی دژمی د کومک په وعده د انګلیسانو سره د تفاهم اومقاومت فرصت لوټ کړ همداسی ممکنه ده چی د انګلیس استعمار دوېمه‌کافی امریکا هم د روسانو سره د سره دیورند د یوبل تقسیمی حل د پاره لار هواره‌کړی او زموږ د هیواد مستقبل داسی شرائطو ته ولیږدوی چی هاتـه د انګلیسانـو د وفادار عبدالرحمن خان پرځـای یو بل جنـاب چی د روسانو سره‌ئی تفاهم او اعتماد ژر بوتـی نیسی را منځته‌کړی ، په داسی حال کی چی د محمدزیو د داخل کشمکش ځای هم ننیوسیاسی ډلو پوره په امانتداری ډک کـړی او د دښمـن د پـاره د دغسی لاس او بړدولو فرصت ډیر ګران هم نه ښکاری !!

که څـه هم د انګلیس سل کالـه مخکی ظالمانه حل د روسانو د پاره ګران او یا آسان وی خو زما په فکر کی پـه دی رابطه ملت تـه دتشویش پرځای هوښیاری اوحساس موقف‌مناسب دی‌ځکه پرونی‌انګلیسی دیورنـد وکـولای شـو چـی د افغانستان حالات د نیمه آزادی په چوکات کی د یوی پیړی پوری وساتی او همـدا نن هم زیات مصیبتونـه د همـدی توری کرښی د را پـاتی جنجـال‌نورا پیـدا شوی ، نـو سور «دیورنـد» یادیمن او کوریا په شان خط د افغانستان د مسئلی حل بـه روسانو ته د دی موقع ورکړی چی نیم‌افغانستان به پاتی بل نیم وتکوی او د افغانانو په لاس به هغه هدف لاس ته را وړی چی سور پوځ پکی د ناکامی سر کیښود .

و آنچه بالای آن ترکیز دارد . این است که اتفاق در قسم سوم آن بهتر از اختلاف است و همچنان سبکی رحمه الله به کلام ابن حزم در رابطه به ذم اختلاف اشاره می‌فرماید زیرا ابن حزم رحمه‌الله اختلاف را با رحمت نقیض دانسته بلکه آنرا عذاب میداند .

برای فهمیدن ضررهای خطیر اختلاف همین کافی است که هارون علیه السلام آنرا خطر بزرگ و زیانمندتر از عبادت بت‌ها شمرده ، زیرا وقتیکه سامری گوساله طلائی را ساخت و خطاب به قومش گفت : هذا الهکم و اله موسی . (طه٨٨) این است معبود شما و معبود موسی .

هارون علیه السلام خاموشی اختیار کرد و انتظار قدوم برادرش‌موسی(ع)را کشید، زمانیکه موسی علیه السلام رسید قومش را مشغول پرستش گوساله یافت ، برادرش را شدیداً ملامت کرد اما هارون در جواب گفت: یا ابن أمي لا تأخذ بلحیتي و لا برأسي اني خشیت أن تقول فرقت بین بني اسرائیل و لم ترقب قولي . طه آیه ٩٤ ای پسر ما درم از ریشم میگرونه موی سرم را ، هر آئینه من ترسیدم که تو خواهی گفت ، جدائی انداختی میان بنی اسرائیل و انتظار نداشتی سخنم را .

بناء هارون از ترس فرقت و اختلاف در میان قومش در آن شرایطیکه دید مقاومت ، انکار ودوری از اوشان فائده‌یی ندارد، دست به عکس العملی نزد !!

فصل دوم

تاریخ اختلاف و تطور آن

اختلاف صحابه در عهد پیامبر ﷺ :

در دوران حیات سراسر افتخار برگزیده اسلام محمد ﷺ آنچه مایه اختلاف یاد شده باشد ، وجود نداشت ؛ زیرا پیامبر ﷺ مرجع همه مردم در حل قضایا و مشکلات محسوب می‌گردید و هر حادثه‌یی که رونما می شد به نزد حضرتش رجوع می‌کردند و پیامبر هم آنها را از هرگونه سرگردانی و حیرت زدگی نجات می بخشید و اگر صحابه رضوان الله علیهم در امری اختلاف میکردند نزد پیامبر میآمدند و پیامبر آنچه حق بود بر ایشان بیان و راه هدایت را روشن می ساخت، اما هرگه حادثه‌یی رونما می شد، و نسبت دوری از مدینه منوره (مرکز حکومت اسلامی) نمی‌توانستند قضیه را به پیامبر برسانند اختلافی میانشان بوقوع می پیوست ، مثل اختلاف در تفسیر آیات کتاب الله ، سنت پیامبر و تطبیق آن در واقعه پیش شده ، یا اینکه در مورد حکم قضیه ای نص نمی یافتند و اجتهاد هرکدام از دیگری فرق میکرد ، اما زمانیکه به مدینه میرسیدند و با پیامبر ﷺ دیدار می‌کردند برداشتهای خود را از نصوص و اجتهاد خود را در برابر قضایا تقدیم میکردند که پیامبر ﷺ یا آنها را تایید می‌کرد که بدینوسیله جزئی از سنت می شد ، یا اینکه وجه حق و صواب را در مورد بیان میداشت و همه در برابر حکم او اطمینان حاصل کرده و به آن تمسک میورزیدند و به این ترتیب اختلاف مرتفع میشد که می‌توان از جمله مثالهای ذیل را یاد آور شد :

۱- بخاری و مسلم روایت میکنند که پیامبر در غزوهٔ احزاب فرمودند : « لا يصلين أحد العصر الا في بني قريظة » بناء گروهی در نیمه راه بودند که عصر شد ، برخی از آنها گفتند تا به بنی قریظه نرسیم ، نماز عصر را نمی خوانیم ، برخی دیگر گفتند ، نه نماز را در راه می خوانیم ، بعداً این واقعه را به پیامبر اکرم ﷺ یاد آور شدند که هیچ کدام شان مورد خشم و اعتراض قرار نگرفتند .

ظاهر این حدیث شریف می رساند که صحابه رضوان الله علیهم در برابر ادای نماز عصر دو موقف اختیار کردند گروهی طوریکه منطقی‌ها میگویند ظاهر لفظ را گرفتند یا به اصطلاح اصولیون احناف به «عبارت النص» (و به تعبیر رقیقتر به حرفیت نص) عمل کردند و گروهی از نص معنی ویژه آنرا استنباط کردند (علت را استخراج کرده و حکم را منحصر شان شمردند) و عدم خشم واعتراض پیامبر و سکوت در برابر طرز تلقی هر دو گروه ، دلیل مشروعیت هر دو مذهب را میرساند .

بناء مسلمان می تواند به ظاهر نص عمل کند و همچنان حق دارد معانی‌یی که احتمال آن در نص وجود دارد استنباط نماید ، و کسیکه تلاش کرده و استنباط نموده هیچ ملامتی ندارد ، برعلاوه او حق چنین تلاشی را نیز دارد ، بناء گروه دوم پس از اجتهاد فهمیدند که هدف پیامبر ﷺ مبالغه در سرعت است ، از همینرو ادای نماز عصر را در نیمه راه قبل از رسیدن به بنی قریظه — ما دامیکه مانع رسیدن شان نشود — منافی فرمان پیامبر ندانستند ، شگفت اینکه ابن قیم رحمه الله درکتابش «اعلام الموقعین» اختلاف بعدی فقهاء را در مورد این قضیه بیان کرده که جماعه گفتند کار افضل را آنانی انجام دادند که نماز را در راه اداء کرده و در لبیک

گفتن امر پیامبر هم بر دیگران سبقت جستند وبرخی گفتند که :

عمل گروهی افضل است که نماز را در بنی قریظه ادا نموده اند .

اما من میگویم : در حادثه یی که پیامبر ﷺ آنرا فیصله کرده و هیچ کدام شان را سرزنش نفر موده ، سزاوار بود که نباید فقهای کرام در قضیه اینقدر عمیق می شدند و جرو بحث میکردند .

۲- و از همین مثالها یکی هم روایت ابو داؤد و حاکم از عمرو بن العاص است که گفت : در غزوهٔ ذات السلاسل محتلم شدم ، ترسیدم اگر غسل کنم خواهم مرد . بناء تیمم نموده و یا را نم را نماز جماعت دادم ، همراهانم بعد از باز گشت ، حکایت را به پیامبر ﷺ رساندند ، پیامبر فرمود : یا عمرو اصلیت بأصحابك وانت جنب ؟

ومن این آیه مبارکه را تلاوت کردم که : ولاتقتلوا انفسکم ان الله کان بکم رحیما» .

(سورة النساء ، آیه : ۲۹)

و مکشید خویشتن را ، هر آئینه خدا هست بر شما مهربان .

پس پیامبر ﷺ خندیدند و چیزی نگفتند .

تأویل و انواع آن :

ما نمی خواهیم درین جا همه اختلاف نظر هایی را که از طرف صحابه در عهد پیامبر ﷺ در رابطه به عمل به ظاهر نص و یا براساس تدبر ، پژوهش و استنباط معانی گونا گون ابراز گردیده یاد آور شویم زیرا انجام این کار در این مختصرنگنجیده و با یاد آوری آن مثنوی هفتاد من کاغذ میشود ، اما بطور خلاصه باید گفت که ، صحابه رضوان الله علیهم درک کرده بودند که دین بربنیادهای یسر و سهولت بنا شده و شریعت آسمانی اسلام هر دو روش را تأیید میدارد .

مجتهد ان حاذق و فقهای ما هر یکه در امور شریعت پژوهش و تحقیق دارند گاهی به ظاهر لفظ عمل کردند و احیانا به ما وراء ظاهر لفظ ، که بنام تأویل مشهور است ، بناء بهتر است که در این مورد کمی روشنی انداخته و بصورت مختصر انواع تأویل را با قوانینش بیان داریم .

۱- تأویل قریب :

این نوع تأویل چنان است که معرفت آن با تأمل اندک امکان پذیر بوده و لفظ ، آن احتمال را نیز داشته باشد مثلاً صدقه کردن مال یتیم ، یا بخشیدن و تلف کردن آنرا مساوی با خوردن آن قراردادن ،

کورونه بې رنګ شوی او د خدای(ج) په لاره کې ي د هجرت لاره غوره کړې ده .

یا اولی از تحریمیکه فرموده خدا بدان دلالت دارد ، خداوند میفرماید :

«ان الذین یأکلون أموال الیتامی ظلماً انما یأکلون فی بطونهم نارا». (سورة النساء ، آیه : ۱۰)

و هرآئینه آنانکه میخورند مال یتیمان را ناحق جز این نیست که میخورند در شکمهای خویش آتش را .

و مثال دیگر تأویل قریب یکی هم ، بول کردن در یک ظرف و سپس ریختن آن در آب را کد را مساوی قرار دادن با حکم بول مستقیم در آب است. زیرا پیامبر ﷺ فرمودهٔ اند : «لا یبولن احدکم فی الماء الدائم ثم یغتسل فیه» نباید هیچ کدام تان بول کند در آب ایستاده و سپس در آن غسل نماید ، به این اعتبار که هر دو عمل سبب کثافت و تلوث آب شده و هر دو یک حکم دارد .

۲- تأویل بعید :

برای رسیدن به تأویل بعید و معرفت آن نیاز به تأمل بیشتر بوده و لفظ احتمال آنرا هم باید داشته باشد ، مثل استنباط عبدالله بن عباس رضی الله عنهما که اقل مدت بار داری شش ساه است ، او این مسئله را از این دو قول خداوند استنباط کرده که :

«وحمله وفصاله ثلاثون شهرا». (احقاف ، آیه ۱۵)

و مدت حمل او و جدا کردن او از شیرسی ماه است.

با این قول خداوند که : «والوالدات یرضعن اولادهن حولین کاملین لمن أراد أن یتم الرضاعة» . و ما در ان شیر دهند ، فرزندان شان را دو سال کامل برای کسیکه می خواهد تمام کند مدت شیر دادن را .

و هم چنان است استدلال شافعی به این قول خداوند که اجماع حجت است، زیرا خداوند میفرماید که : «ومن یشاقق الرسول من بعد ما تبین له الهدی ویتبع غیرسبیل المؤمنین نوله ما تولی ونصله جهنم وساءت مصیرا». (سورة النساء ، آیه ۱۱۵)

و هر که مخالفت کند با پیغمبر ، پس از آنکه معلوم شد بوی راه راست ، و پیروی کند راهی را که خلاف راه مسلمانان است ، حواله کنیم او را به آن طرف که اختیار کرده و در اریمش بدوزخ و بدمرجع است دوزخ .

وهمچنان است استدلال اصولیون در رابطه به حجت بودن و دلیل شرعی بودن قیاس به این آیه مبارکه که

(ادامه دارد)

منیب

اسلامي حکومت او اهلیت

د حکومت تاریخچه د قرآن له نظره

که مونږ او تاسي قراني هداياتو ته په غور او دقت سره و گورو نو په واضح ډول سره به دا حقیقت څرګند شي چي د انسانانو له پیدا ینبت څخه مخکی پیریان د ځمکي پرمخ موجود وه لکه چي قرآن کریم فرمائي:

والجان خلقنه من قبل من نار السموم.

(سورة الحجر - ۲۷)

او جان (چي د پیریانو پلار دی) پیدا کړی وه مونږ مخکي د انسانانوځنی د سوزونکی او رڅخه خدای(ج) هغوی ته د ځمکي حکومت او تصرف ورکړی و چه څوزره کاله ئی د ځمکي پرمخ د حکومت سلسله جاري وه.

د الله(ج) لـه لوری ورتـه هدايات او احکام را لیږل شوي ؤ د دی لپاره چي خپل معیشت او معاملات د الهي احکامو په رڼاکي سرته ورسوی لکه چي قرانکریم په دي هکله داسي ارشاد فرمائي:

یمعشرالجن والانس الم یأتکم رسل منکم یقصون علیکم آیتی و ینذرونکم لقاء یومکم هذا.

(سورة الانعام - ۱۲۹)

ای ټولیه د پیریانو او انسانانو ایا نه ؤ راغلی تاسوتـه پیغمبران د جنس ستاسو څخه چي بیانول به دوی په تاسو ایتونه زمونږ او ویرولی تاسي له مخامخ کیدو د دی ورځي نه د ضحاک(رح) تابعي د سوال او ځواب له مخي په پیریانوکی د نبوت سلسله ثابتیږی له هغه څخه چاپو ښتنه وکړه چي ایا زمونږ لـه نبی(ص) څخه مخکی پـه پیریانوکی نبی(ص) تیرشوی هغـه پـه ځوابکی ورته پورتني آیت تلاوت کړو او وی فرمایل:

بذلک رسلاً من الجن و رسلاً من الانس.

همدارنګه تفسیر بیضاوی لیکی

و تعلق بظاهره قوم و قالوا بعث الی کل من الثقلین رسل من جنسهم.

تفسیر مدارک د همدغه آیت په تفسیرکی لیکی:

و علیه ظاهر نص، لیکن جمهور علماً په دی خبره قایل ندی چي په پیریانوکی پیغمبران تیرشوی خو په دی خبره ټول متفق دی چي د خدای (ج) لـه خوا ورته احکام رالیږل شویدی او له احکامو سره د ځمکي حکومت او تصرف ضروری او لازمی شرط وی ځکه چي حکومت پـه اصلی معناؤکی همدغی تـه وايي چي پرژوندیو امراً او نهیاً حکم نافذکړای شي او پیریان په احکامو مکلف شوی وه نو د ځمکي تصرف او حکومت هم د همدوی پلاس کی وه.

اما کله چي د دی په عوض خپل معیشت‌معاملات او عبادات د الهي احکامو پـه رڼاکي سرتـه ورسوی ده پرعکس ظلم بربریت سرکشي او وحشت فساد او معصیت‌ئی شروع کړل کله چي د هغوی ظلم، سرکشي او فساد لـه حده زیات شونو پـه دغـه علت د لوی خدای(ج) له عذاب سره مخامخ شول، ځینی پیریان دښتو اوځنګلو تـه وشړل شو او پـه غرونو، درو او جزیروکی خواره واره شول ابلیس چي د دی پیریانو یو لوی عابد او عالم وه د پیریانو پـه فسادکی ئی

خپله بې طرف او بې ګناهي ښکاره کړه او د پرښتو په سپارښت له هغوی سره محفوظ پاتې شو او په دې تمه او هیله وه چې وروسته تردې به د ټولو شړل شو او پیریانو پرځای زه د ټولې ځمکې والي او متصرف، و تاکل شم په عبادت او ریاضت کې ئې ډیر زیار یو ست اوتل به د ځمکې د حکومت او خلافت په تصور کې دوب تللی و.

خوکله چې د ابلیس د تصور پرخلاف د خدای تعالی اراده د آدم(ع) د خلافت په باب ظاهره شوه‌نو ابلیس مایوس شو او د خپل ریاکارانه عبادت په بې ځایه تللو باندې له اندازې زیات خپه شو او د حسد او کینې په جوش کې ئې هغه کارو نه وکړل چې په طاقت او توان‌کې ئې وو او په لتیجه‌کې ملعون شو‌نو په دې ترتیب د پیریانو خلافت او حکومت پای ته ورسیده او د دغه کار لپاره خدای (ج) یو بل مخلوق بنی‌آدم انتخاب کړو خدای(ج) د هغه د خلافت واقعه د لومړی ځل د پاره داسې بیانوی

و اذ قال ربک للملئکة انی جاعل فی‌الارض خلیفه.

ترجمه : او یاد کړه (ای محمده) هغه وخت چې ستارب ملایکوته وویل چې بیشکه زه ګرځونکی (پیدا کونکی) یم په ځمکه کې خلیفه لره.

کله چې د آدم (ع) خلافت لوی خدای (ج) ملایکوته معرفی کړو ځرنګه چې ملایکو د پیریانو حالات لیدلی وه چه هغوی ظلم کونکی او وینې تویو ونکی وه او په نورو فسادونو او معصیتونو باندې اخته وه نو بنی آدم‌ئې هم هغسې اټکل کړ.

د تعجب او استفادې په طریقه نه د کوم اعتراض په توګه ئې پوښتنه وکړه

قالوا اتجعل فیها من یفسد فیها و یسفک الدماء و نحن نسبح بحمدک و نقدس لک.

ترجمه : نو وویل ملایکو ایاګرځوی په ځمکه کې هغه څوک چې فساد به کوی په دې ځمکه کې او په ناحقه سره به وینې تویوی حال دا چه مونږ تسبیح وایو سره د ثنا صفت ستا او نسبت د پاکۍ بیانوو تاته.

خدای (ج) د ملایکو په ځواب کې داسې و فرمایل :

انی اعلم ما لا تعلمون.

الله (ج) و فرمایل بیشکه زه پوهیږم په هغه اسرارو چې تاسې پرې نه پوهیږئ.

په دې اساس د خلافت او حکومت لړی له پیریانو څخه آدم(ع) ته را نقل شوه او دغه لړی تر او سه پورې روانه ده.

لکه چې الکامل لابن الاثیر تاریخ ابن جریر اول ټوک صفحه ۷۶ څخه تر ۸۱ صفحې پورې د دې خبرې تائید او وضاحت کړی. چې د آدم(ع) له نبوت سره ملک الارض یعنې د ځمکې حکومت هم ؤ او د هغه‌تر وفات وروسته دغه ریاست (ملک‌الارض) د هغه ځوی حضرت شیث علیه‌السلام‌ته او د حضرت شیث(ع) ورسته د هغې اولادې حضرت انوش(ع) ته و سپارل شو).

د پورتنی تحقیق له مخې دا په ډاګه شوه‌کوم وخت چې خلافت او د ځمکې تصرف له پیریانو څخه بنی آدم ته را نقل او آدم(ع) د دغه‌کار د پاره منتخب شو نو د خلافت لړی هم د آدم(ع) څخه شروع تر حضرت محمد (ص) چې تر ټولو ورستنی پیغمبر دی رارسیږی، دا چې نبوت په حضرت محمد (ص) باندې ختمیږی نو په دغه اساس دا ستره دنده د حضرت محمد(ص) امت ته سپارل کیږی چې حضرت ابوبکر صدیق(رض)، حضرت عمر(رض)، حضرت عثمان(رض)، حضرت علی (رض) د هغې ارزنده او ژوندی مثالو نه دی.

عبدالحی «شیدا»

انگیزه های دعوت اسلامی

تعالی دعوت عالم باشند.

شروط دعوت:

شرطهای دعوت قرار ذیل اند:

(۱) صبر، (۲) ایثار، (۳) تقوی، (٤) احسان.

۱- مسألهٔ مبرهن و آفتابی است که عناصر داعی درامتداد راه پرخار دعوت به مصائب و مشکلات متنوع و گوناگون مواجه میشوند، ولی آنچه که عنصر داعی را در امر سبقت جستن به پیروزی‌های هدفمندانه دست یاب می‌کند صبر است، صبر صفتی است که خداوند(ج) به‌عناصر مؤمن اعانت کرده است، معنی‌آن خود داری و اجتناب از عجله و تحمل بارسنگین کارها. مقاومت و پرتوانی در برابر شداید مبارزه بادشواری‌ها، مخالفت‌ها و قیام‌ها. توأم باثبات و حوصله، مردانگی و فرار از عقب نشینی و ارتجاع.

آنانیکه در دعوت خویش احیاناً بطور عاجل به نتیجه یی‌دست نمی یابند، و شاهد پیروزی را به آغوش نمی کشند، از شکست ها و نقصان ها در سیر کوره راه دعوت هراسان نمیشوند، و در طریق نیل بهدف از خطرات باکی ندارند و پیوسته به نیروی مساعی خویش می‌افزایند و خطوط سازنده فکری شانرا مطلع تسلی‌بخش قرآنی (اصبروا و صابرو) ترسیم میکند.

سرانجام مقطع امید آفرین و امانت ان الله مع الصابرین چشمان منتظر شانرا که الگوئی مقاومت بوده است فروغ خارقهٔ می‌بخشد و در پرتو آن بمعراج هدف سمند گزین میشوند.

۲- ایثار: اصل دوومیکه در زمرهٔ شروط دعوت شامل است، ایثار میباشد ایثار به‌مفهوم خود گذری و فدا کاری، جانفشانی و پشتکار تاوهلهٔ مرگ و شهادت، انتخاب مسیر قربانی، و گذشتن از فراز همه بزرگی‌ها و امتیازات مادی و دنیوی است.

کلمهٔ داعی به‌کسانی اطلاق میشود که باوجود داشتن همه امکانات مطلوب معنوی و صفات خجسته و حسنهٔ باطنی و اعمال نکو و شایستهٔ اسلامی دارای خاصیت و ماهیت حمیدهٔ ایثارگری باشند.

زیرا قرآن کریم درهرجا که سخن از ایشان رفته به تأیید آنانی پرداخته است که در مقدمهٔ محراب قربانی و خودگذری سنگر همیشگی دارند، و از این آزمونگاه بخاطر اقتدار و سلطهٔ هدف شلیک می‌کنند. در جوامع امروزی کمتر آنانیرا سراغ کرده میتوانیم که در برابر نیازمندی های مادی، و خواسته های مبتذل غریزی و وجاهت سرتسلیم فرو نکرده باشند، زیرا ضرورت های طبیعی قهراً انسان ها را نا توکل به محضر طمع و احتیاج میکشاند و احتیاج مندی‌ها و استمطاع اسباب ذلت و تحقیر را فراهم می کند. آنجا است که انسان محکوم به زندان هوی و نفس بهیمی، به آستانه حقارت بار و ذلت آفرین طمع و تسلیم، پناه میبرد، و مشرکانه دست پای خواهشات را سجده مینماید و برطبق گواهی آیهٔ بینهٔ «الهه هواه» نفس خویش را بخدایی میپذیرد،

و عنان حاکمیت و تسخیر سرزمین وجود خویش را رضا کارانه بدست آن می سپارد و یا جو ناساعد و مختنق حاکم برجامعه و موجودیت شرایط ناسالم ایشانرا از دعوت الی الله و جهاد فی سبیل الله باز داشته، مرتجعانه در صدد گرفتن موقف و استحصال نام و نشان و قدرت میشوند، وبرعکس عناصر مؤمن برفرق همه نیاز مندی ها و حوایج پا گذاشته منفعت اجتماع و اسلام را بر خواست و ایجابات شخصی ترجیح میدهند، راه صعب العبور دعوت و جهاد را باهمه هست و بود بغرنجش با جبین‌گشاده میپذیرند، دراین راه باقبول قربانی، شهادت، فدای مال و جان به مقابله و مقاومت می پردازند ، از استقبال تلفات و دشواری‌ها، بروز حوادث و پیش آمد شرایط ناساعد متوحش و مضطرب نشده هماهنگ با تسریع دعوت از خم و پیچ حوادث و دشواری ها مردانه وارعبور مینمایند . و در جهت رشد و سلامتی دعوت و پخش و اشاعهٔ آرمان نهضت از جلال با هیچ طاغوتی دریغ نورزیده به پیش میروند تا شرایط مطمئن تر وآراسته تر ایجاد نمایند و میستیزند تا اقتضای زمانه را بکام دعوت خویش متغیر سازند.

۳- تقوی: شرط اساسی‌یی که مقتضای یک داعی اسلامی است و داعی را با پیراستگی های بندهگی بخدا آراسته میکند تقوی و پرهیزگاری است و حقیقت تقوی نام آن کیفیت نفس است که از خدا ترسی و احساس مسئوولیت ها بمیان می آید .

عناصر متقی و داعی کسانی هستند که قلوب شان مملوء از ترس خدا(ج) بوده و در برابر مسئوولیت های الهی با خضوع و خشوع منتظر تهیه جواب میباشند، آنها در اطاعت از اوامر و نواهی الهی مکلفیت داشته باضمیر بیدار به کشتن نفس به جدل میپردازند و تنها در ممنوعات صریح بلکه در امور مشتبه نیز از گرفتاری خود بخود و اتفاقی احساس تشویش و ناراحتی می کنند.

تزکیه و پاکیزهگی خاصه کسانی است که مسیر دعوت الی‌الله را انتخاب می‌کنند، و در این راه تجاوز از حدود خداوند راعوامل محکومیت ومرگ وزوال پنداشته بمجرد اصابت باچنین تخلفی فوراً سر تا پای وجود شان بلرزه در می‌آید و عطش‌زده دامن ندامت بکف میگیرند.

در دائره تقوی آنانی شمولیت میورزند که در محافظه و امانت داری حقوق الله و حقوق‌العباد خوگری جاودانه و ممارست خوی و عادت همیشگی داشته و در رعایت اصول اخلاق، و طرز تفکر عالم درهمه جنبه های زندگی اهتمام جدی به خرچ میدهند.

حقیقتی‌که شامل بخش‌های متعدد بندگی خدا ست، در جوانب مختلف امر بالمعروف و نهی عن المنکر تمثیل میشود ، وشامل ارگانهای دسته بندی‌شدهٔ اجزاء خوف از خدا(ج) اطاعت، عدالت، امانت داری، سپاس و شکران ، انجام فرایض ، سنن ، مستحبات وغیره ، تعاون و یاری ـ دستگیری مظلومین و مقابله بازورگویان، همنوائی باعناصر محروم و ستمکش، اعم از کودکان پدر مرده و بیوه زنان برهنه پای و انفاق با مساکین و فقراء است.

یعنی اسلام بصورت همه جانبه در عقیدهٔ عناصر داعی و متقی در جذبات و رجحانات برتری و فزونی او، در مذاق و ذوق طبیعت او و در تقسیم اوقات او ، در صرف نیروهای او ، در مسیر مساعی او ، در طرز زندگی و معیشت او ، در صرف عائدات او، و در همه ابعاد حیات دنیوی و اجتماعی او دخالت مستقیم دارد. بقای نهضت‌های اسلامی را نیز دواصل ضمانت میکند:

یکی نظم مستحکم و پلانگذاری پایه‌دار و دیگر تربیه عالی مفکوره وی و اخلاق که هر دو در بخش اخلاق و تیوری شامل است و منحیث صنوف مکتب تقوی معرفی و تصدیق شده اند.

٤- احسان : احسان که یکی از پایـه های متین و استوار اسلام است از صدر اسلام تاکنون در میان امت مسلم جریان داشته و منحیث قواعـد هماهنگ بافرایض و سنن تبارز کرده است، معنی واقعی این اصطلاح، نکوکاری و تحسین بوده در حقیقت علاقه مفرط قلبی ، محبت سرشار و عمیق ، وفاداری راستی ، فداکاری و جان نثاری درجهت الله ورسول و دین است که مسلمان را بمقامات و قله های مرتفع و شامخ فنا فی‌الاسلام رهبری می‌کنند . تطور اساسی احسان محبت و علاقـه است با پروردگار که ایشانرا در جهت کسب خوشنودی، خداوند(ج) تشویق و آماده میسازد.



روزی پیامبر گرامی اسلام در انجمن صحابی نشسته بودند، اتفاقاً مردی پرصلابت و سفیـد جامـهٔ وارد مجلس شد، صحاب پیامبر(ص) را باسرگیجی کامل نظریات مختلفی‌پیدا شده از صورت وسیرت وپاکیزه‌گی‌این مرد اکثراً گمان می‌کردند که از جای نزدیکی آمده و مهمان آشنا است، و بعضی‌ها نسبت عدم تعارف فکر می‌کردند بیگانـه است ولی بهرصورت این مرد خوش سلیقه و مهذب به مجرد دخول در حلقهٔ مجلس همکنار باپیامبرگرامی اسلام می نشینند و سر صحبت را باصورت و سیمای آشنا میگشایند و در سلسله ارزیابی و پرسان و تعالیم خویش از حضرت محمد(ص). می پرسد که و مالاحسان، ! ؟ پیامبرگرامی میفرمایند : ان تعبـدو الله کانک تـراه فان لم تکن تراه فانـه یراک. و بعد این مرد میگوید که (صدقت) یعنی توراست مگفتی ، صحابی فکر میکردند که این مرد از نادانی بخاطرتفسیر و استحصال امور شرعی وارد مجلس شده است، چنانکه از فحوای استفسار این مرد هم چنین بر می آید که او خود نمی داند ولی زمانیکـه پیـامبر(ص) جواب میداد و او (صدقت) میگفت. باز صحابی فکر میکردند که او خود عالم‌است، وقتیکه دریچه صحبت بند میگردد و مرد سفید جامه از انجمن مرخص میشود، پیامبر(ص) بـه صحابی می گوید که این مرد جبرئیل امین است ، و بخاطر انجام رسالت دعوت و تعلیم به شما اینجا آمده بود بلی موضوعات و محتویات ارزیابی و پرسان آن مرد سایل و متجسس را مسایل مهم و وارزندهٔ اسلامی تشکیل میداد و پرسان ها و استفسارش ـ لحظـه به لحظه به اقتضای یکدیگر پیوسته در تلاش بود تا از جریانات و کوایف دین حق اهل انجمن را تعلیم کند ، او در سلسله اصرارش بـه پیامبر گرامی اسلام. از اسلام و ایمان می پرسد و احسان را نیز، در این بخش همأنگ با این دو اصل دیگر مطالعه می‌کند. راستی احسان در رعایت قوانین و دساتیر خدا(ج) مسأله عمده و پرارجی است، که یکجا با ایمان و اسلام در تغیر و تبدل حالت و مزاج و هوای انسانی تأثیر سازنده و مستقل دارد .

(ادامه دارد)

د انقلاب گرنگسی

اشک تابلوی زندهٔ و گویای میناتور عکس العمل منفی احساسات سرکوب شدهٔ انسان است که در هر قطرهٔ آن جهانی از یأس ، دنیای از حسرت و کهکشانی از آرزو های گمگشته بشر نهفته و مضمر میباشد . . . .

اشک اگر از یکسو بر دل غالب میاید و بر چشمان هجوم میآورد و از آشیانه انتظار فرو سقوط میکند ـ از سوی دیگر ، غلتیده ، غلتیده رنجهای بی پایان ابنای آدم را رو به تحلیل مینهد .

اشک از همه بیشتر توشهٔ زنده گی عبادی مسلمان است و رهگشای پرواز بال کشادهٔ دعای مؤمن بسوی پروردگارش ، چقدر بزرگ است قطره اشکیکه به خاطر رضای خدا ، احیای است مسلمه ، تزکیهٔ نفس، سیال ساختن مجاهدت و ریاضت و تصمیم قاطع در راه جهاد و نیل به اهداف برین ریخته شود . . .

این مقدمهٔ بی سر و پایی بود که خواستم خوانندهٔ ارجمند را قبل از زمزمهٔ شعر بلند بالای «تارشی» به هستی بزرگ اشک که در نهانخانه های ضمیر انسان نهفته است اگاه سازم ـ جهت تجسم واقعیت اشک ، شعر استاد تارشی را حتما بخوانید تا میدان بزرگ اشک را به یک نگاهی بپیمایید و جهانی از جهان اشک بررخ تان باز شود .

میدان اشک

گر چه از سرچشمه دلهای تنگ آید برون
لیک تا عرش‌خداوندی بود میدان اشک

می سزد گردیده گردد بحر بی پایان اشک
خانهٔ هستی شود ویرانه از طغیان اشک

صد سحر دارد به دامن اشک شبهای نیاز
بعد ازین شب تا سحر دست من و دامان اشک

اشک اگر نبود ندارد زندگی هرگز فروغ
می رسد پایان حیات شمع با پایان اشک

کاخ استعمار سرخ و قصر جاه و اختلاف
باد یا رب یک بیک ویرانه از طوفان اشک

هر که خواهد سرد سازد خون جو شان جهاد | غرقه اش کن یا رب اندر چشمهٔ جوشان اشک

همچو آن طفلی که جوید مادر مقتول خود | می دود بر چهرهٔ من طفل سرگردان اشک

بر گل زخم که افشانم چو شبنم اشک خویش | تا بهار درد روید زین همه باران اشک

سینهٔ ما چیست؟ یک آتش فشان داغ آه | دیدهٔ ما چیست؟ یک گوهر فشان کان اشک

داغ دل، سوز جگر، فریاد درد انگیز و درد | در بیابان غم اند این جمله از یاران اشک

گر چه از سرچشمهٔ دلهای تنگ آید برون | لیک تا عرش خداوندی بود میدان اشک

چون فتد بر چهرهٔ آغشته با خون یتیم | درد و غم را رنگ دیگر می دهد جریان اشک

چون بریزد بر سر قبر شهیدان وفا | جان برویاند ز خاک هر قطرهٔ غلطان اشک

عاقبت آید بکف انگشتر فتح و ظفر | زین همه یا قوت خون و گوهر تابان اشک

از سپاه خون به خاک افتد سپاه سرخ روس | باز گردد راه آزادی ز سر بازان اشک

درمیان خانهٔ آتش بروی فرش خون

ملت مظلوم افغان را نگر مهمان اشک

از الحاج عبدالاحد تارشی

وینمه

امان الله «نصرت»

له هند وکش نه تر خیبره شنې جنډې وینمه
دښتې ډاگونه د غلیم په وینو سرې وینمه
د قهرمان کونړ په غیرکې سره یوځونه وسول
په بریکوټ او په اسمارکې یې ټانکونه وسول
په سرو لمبوکې د دښمن خپې اولا سونه وسول
د خاور ولاندې یې جنگي عصرې وسلې وینمه
په قندهارکې پر غلیم داور باران جوړ شوی
هرات اوبلخ کې لوی قیامت په سورشیطان جوړشوی
له گران هیوادنه د روسانو قبرستان جوړ شوی
په میگ او جیټ باندې ئې بلې سرې لمبې وینمه
گوری پکتیا کې د دښمن د لاس وسلې پاتې شوی
د چالا سونه، ککرې او د چا خپې پاتې شوی
په هر قدم ترې دباروتو خزان پاتې شوی
خوست او ځدران کې یې د سرو قافلې وینمه

مسلم است ته پیغام

ای زما مسلم امته درته وایمه ء رازونه   لېږ د خدای (ج) لپاره واوره د درد من زړه فریادونه
ورته څیر شه درته وایم   د بې وزلو پیغاسونه

★ ★ ★

دا حدیث د مصطفی ﷺ دی   مسلم واړه یو بدن دیء
د لویدیز که د ختیز دی   که افغان که دختن دی
ستا وطن زما وطن دی   زما مرگ ستا ځنکدن دی

★ ★ ★

د نیکونو لار وه بیله   موږ په بله لار روان یو
چې دا هسې یو خوا شینی   چې دا هسې پریشان یو
خدایه څه کانې راوشوی   سر په خوشې بیابان یو

★ ★ ★

گیله نشته ده له چاله   هر څه کړی مو په ځان دی
چا د غرب لوری ته مخ کړ   څوک د روس په خواروان دی
هغه ټول دی تباه شوی   مخالف چې د قرآن دی

★ ★ ★

په فتنو کې ئې اخته کړو   تمدن کې ئې فساد دی
که د غرب پانگه والی ده   که د سره کمون الحاد دی
څوک د هغه څوک د دې دی   خلاص‌تری‌وایه‌کوم هیواددی؟

★ ★ ★

غوږ دولیسه لېږ ماته   ای زما مسلم امته
د تاریخ په پړاوو کې   د نړی شان او عزته
لوږ نشان دؤ گټلی   ستاره دوه او چته

★ ★ ★

ته د څکی خلیفه وې   هغه دور د یادیږی ؟!
اوس د نورو پرې زورې دې   پکې نور کاروانه کیږی
ستا په لویه سرداری کې   د باطل بیرغ رپیږی

★ ★ ★

خلافت دوایه څه شو ؟!   د «خالد» ورزن بابا اولاده !
د پردو ترزامه لاندې   ولې ښکلې «کریمیا» ده ؟
تالـه چانـه دې پـوښتلی   د «خیوا» ځکه د چا ده ؟!

★ ★ ★

د «تاشکند» مدرسی نشته   کوم دی. هغه جوماتونه ؟
د «طارق» میراث د څه کړ ؟   چا پرې وکړل چپاوونه ؟
د «موسی» وپارنې وسوی   چې پرې وشول برغلونه

★ ★ ★

خلافت شو درې وړې   «ترکیه» ذرې ذرې شوه
د « ایوب » د توری وپار ؤ   د غدار په لاس اسیرې شوه
آ پېراخـه ښکلې ځمکه   د «نفاق» په تورو پرې شوه

★ ★ ★



یهودیانو سر اوچت کړ   د «خیبر» فاتح ئې هیر دی
مسلمان له غمه ژاړی   د «عزت» دورئې تیر دی
خپل دردونه درته شمارم   له زړگی می غم چار پیر دی

★ ★ ★

«موناکو» شه درنه پاته   «وانکان» د په اور پوری
لا تر اوسه‌ئې بې خوده   د «عشرت» په میدان ښوری
دا د شرنگـه لوریږی   ورور د وژنې ورته گوری

★ ★ ★

دغه چادر بانـدی کړی   د مرگ پشان افسون دی
نـه د توره ښوانې شته   نه غیرت ستا د پرون دی
غوره کړی دی بې شکه   یو غلام شانې ژوندون دی

★ ★ ★

په اوروکی لو لپه شو   آسمانی ښکلی قرآن مو
را نسکور شولو په ځمکه   و یاړ او فخر د جهان مو
له کمون نه په ژړا دی   لر او ښځې ماشومان مو

★ ★ ★

ستا د سر دعوه ئې وکړه   پرونی ذلیل غلام ستا
د پردو تیری روان دی   د اسلام په ننگ او نام ستا
د ستم سیلیء چلیږی   په خواره ټبر او قام ستا

★ ★ ★

ستا آبرو چې پایمالیږی   راته وایه ناست په څه ئې ؟
ته د غم په خوب ویده‌یی   ته ویده یې . ته ویده یې
چې په ملک د څه تیریږی . ته له حاله خبر نه یې

★ ★ ★

«اندلس»ئې درنه خپل کړ   په تگړ هرگړ پردیو
د کومک چیغې ئې وکړې   آ سرتیرو سر لنگیالو
نه ویده وی خبر نه شوی   د خپل ورور له اسویلو

★ ★ ★

د علوموخزانه چی هغه ښکلی «بخارا» وه
د پوهنی ـــ پلوشوئی رونه کړی چی «آسیا» وه
د قطبی خرس له ستمه دوی ژړل او ستا خنداوه

* * *

« فلسطین » شودرنه پاته یهودیان پکی اوسیږی
څڅکه تنګه شوه پری توله تیت پرک دی نه تولیږی
« ایتوپیا » شوه لوتی لوتی لوړی تندی پری تیریږی

* * *

ستا بدن توټه توټه شو له «یمن تر البانیا نه»
ته د غم په خوب ویده یې خبر له یې له جهانه
چه څه وشول ؟ او څه کیږی؟ سرداری دی شوله ورانه

* * *

ته د مرګ په خوب ویده ئی هلته څه حال د «لبنان» دی
د کفارو لهٔ ستم نه په ویر ډوب «افغانستان» دی
که خدای (ج) مکړه بری‌یوسی سبا تا ته در روان دی

* * *

لږ خو پام وکړه دی لور ته راشه وګوره څه حال دی
بوری وراری راته ژاړی د بی وزلو غالمغال دی
د سرو وینو په جهو کی دا زمونږه اوم کال دی

* * *

قتل عام دی پیل شوی د مظلومو ـــ افغانانو
د سرو وینو رود روان دی د بی وزلو ـــ انسانانو
نن بیا موږ سبا پرتاسو د نړیء ـــ مسلمانانو

* * *

لږ مو غوږو نیسی دلته ترانه واوری غمجنه
په داګونو کی خواره مو مظلومان دی بی وطنه
ګرنګونو کی پراته مو شهیدان دی بی کفنه

* * *

د بهار خبری نشته دلته سر او کال خزان دی
هغه ښکلی باغ او بڼ مو د ظالم په بمو وران دی
بس وژل ترل ورانی ده اعدامونه دی زندان دی

* * *

په وطن کی مو جوړ شوی د قطبی بیرو غوبل دی
مدرسی مو شوی ویجاړی جماتونو مو اوربل دی
خزانی مو شولی لوټی چی راغلی ورته غل دی

* * *

دلته پروت مظلوم ملت دی د بمونو پری در زاده
کونډی بوری یتیمان دی بس ژړا او واویلا ده
چی ته ناست ئی ورته غلیء دا په کوم کتاب روا ده ؟

* * *

د ملت ساتنه فرض ده اسلام واړه یو ملت دی
د ورورۍ لاسوله راکړی چی په دی کی مو عزت دی
زموږ بری ستاسو بری دی زموږ عظمت ستاسی‌عظمت دی

* * *

راځی ټول سره یو لاس شو ټول یو موټی او یوصف شو
د دښمن قوت کړو ختم ورته واړه یو طرف شو
ځان ځانی مو نوری بس دی ځی روان په یوه هدف شو

* * *

را ژوندی کړو په نړی کی هغه تیر برم او شان بیا
بشریت ته نجات ورکړو کړو چپه داړه ماران بیا
را ژندی کړو په میړانه د «عمر رض» هغه دوران بیا

* * *

نړیء بیرته کړو را خپله د ظالم بی دین له واکه
بیا بوتان د عصر مات کړو توله خاوره کړو تری پاکه
د تیری لاسونه پری کړو له دی «تور» او «سور»ښکیلاکه

* * *

چی هم موږ شوتل سوکاله هم به خدای(ج) را له رضا وی
«سوله» «امن» به وی دلته نه به «جنګ» نه به «دعوا»وی
د ستم تیاری به نوری د اسلام په نور رڼاوی

* * *

بیا به هلته خوشحالی وی
ای زما مسلم امته

د تاریخ ، په پراوو کی د نړیـ شان او عـــزته
ای خوره وره تبره پرونـیـه لوی قوته

* * *

« شفیقی »

گریستم

شبها بـه یـاد نـام عـزیزان گریستم
با ناله های زار و پریشان گریستم

شبها گذشت و قصهٔ شبها چه سان گذشت ؟!   در حسرت شبینـه چـو بـاران گـریستم
عمریست کـه آیینـهٔ آ مـال دل من -   انـدوده غـم اخـتری ، نـالان گـریـستم
یـا رب زغم و سوگ و عـزا داری یـاران   نـاسـوده دمی خـون بـهاران گـریـستم
هر مرد مک دیدهٔ من دیدهٔ جهانی . . . .   بـا یـاد و بـود کابـهٔ حـرمـان گریستم -
پیغـام شفق پیک دل انگیز زنـدگی است   من بـا پیام داشته ، دوچندان گریستم :
زیرا : حکایتی ز لب خون چکان او   هم قصهٔ من ، غصهٔ من ، (جان) گریستم
رفتـند زمـا خیل عـزیزان راستین   در مرثیـهٔ خـون شـهیدان گـریستم
خون میچکد سپهر ، کـویر است در سکوت   بـر این همـه بیـدادی دوران گریستم
نـایـد صـدای یـکدلی زین دهر نـا بکار   از جـور و جفا هـای مسلمان (!) گریستم
زین خـانهٔ پر خـون و فسون زمانه هـا -   مـاتمـکـدهٔ دیـده بـه دا مـان گـریـستم
اسلامیـان خمـوش ز فریـاد دل من   از اجنبی چـه گلـه ؟ زخفگان گریستم
ای رهگـذر بیـاودمی حـال مابین !   کـز آه یتـیم و غـم هجـران گریـستم
صد بـارو هزار با روبسی چند هزار بار   بر کلبه هـای سوخته و ویران گـریستم
چند صد هـزار پـاسـدار صلـح وامنیت   - در خون غنوده ، رشک گلستان گـریستم
از سازمان صلـح (!)چه امید هموطن :   (بـرخیـل کسـان حملـهٔ گـرگان) ، گـریستم
فـرمـودهٔ اقبـال : (کـفن د زد کان چنـد)   ای وای ز نـا دـردهٔ دز دان گـریـستم
امید منی نسل جـوان جـاهـد مؤمن   بـر بیخبری هـای تـو یـکسان گریستم
پیروزی مـا در رقـم وحـدت شما است   از تـفرقـهٔ جمـع مسلمـان گـریستم
یـا رب دعـای مـاپـذیر کار مـا بساز   از صبح تـا به شـام غریبـان گریستم

فروغگر دو شنبه ۲۳ ذی حجة الحرام ۱۴۰۵
اشرفیه کالونی پشاور . . .

محمد نسیم (نعیم زی)

دا هغه غیور ؤلس دی

دا هغه غیور ؤلس دی چی جهان ئی لړزولی
د ایمان په قوی ځواک ئی د وارسا پکت پرزولی

دا هغه غیور ؤلس دی هر مؤمن پری افتخار کړی
د جهان واړه ملکونه ئی په توره ټول اقرار کړی
چی سلام ورتـه تر او سه پلویان د استعمار کړی

د هر عصر په تاریخ کی ئی ځلاند نوم دی ګټلی
د ایمان په قوی ځواک ئی د وارسا پکت پرزولی

د تاریخ پاڼی و ګوری اسکنـدر ورتـه اتیار ږدی
په شیرپورکی مکناټن د اکبر خان په لاس ګوزارخوری
براېډن تنها یوازی سخت ټپی تر ننګر هار ځی

دا یوځل نـه پـه ځوځله ئی دښمن دی شرمولی
د ایمان په قوی ځواک ئی د وارسا پکت پرزولی

دا هغه بت شکنان دی چی په هندکی ئی حق خپور کړ
کندهارکی میر ویس خان ګورګین ته جوړ محفل دګور کړ
یا میوندکی ایوب خان پـه فرنګیانو بل سور اور کړ

د نړی لوی شکیلاک ګرئی په سرو، وینولمبولی
د ایمان په قوی ځواک ئی د وارسا پکت پرزولی

دا دښمن د اسارت دی، دا سر مشق د آزادی دی
دا ملا تړ د محرومانو ، کلک په ضد د غلامی دی
تل خپلوا که اوسیدلی ، فکر خیال ئی اسلامی دی

دی ؤلس له هرچا وړاندی د طاغوت کور نړولی
د ایمان په قوی ځواک ئی د وارسا پکت پرزولی

نن هم دا غیوږ ؤلس دی چی د روس سره په جنګ دی
هر ډګرئی د خلقی ، پرچم ، دهری په وینو رنګ دی
اوس جهان ټول پری خبر دی چی دهری لشکر په تنګ دی

ګوره هر ځای کی (نسیمه) شین بیرغ ئی رپولی
د ایمان په قوی ځواک ئی د وارسا پکت پرزولی

محمد زبیر «شفیق»

زوی می خیر دی چی شهید شو همدائی غوبنتل‌خدای (ج) ورکړل ، خو چی دورس تانګونه روغ پاتی نه شی . .

ترخه مسکا

لنډ داستان

خوب می لیده ، ښه می په یاد نه دی چی څه ډول ؤ ، خو ډیر پکی ژاکراروم ، په دی کی یو درونډ غږ راویښن کړم ، په خپله بستره کی لک کیناستم ، سترګی می ومښلی اوچی ومی غږولی دسپوږمی روښانه شغلوله دریځی نه دکوټی غولی څه ناڅه روښانه کړی ؤ ېڅه شپه وه ساات ته می وکتل تیک دولس بجی وی .

په دی کی یی د ملک صابر په « لا اله الا الله محمد رسول الله » کلمی ویلو هغه ته ور پام شو چی په خوب وړی لهجه‌یی کرار کرار ویله ، بیایی ماته وکتل او ویی‌ویل:

... غږدی واورید ؟!

ما ورته وویل : هو وامی ورید خو . . .

څو ما خبره کوله ده بیا راته وویل :

څه فکرکوی چی د څه شی ؤ ؟!

ما ورته وویل .

والله زه نه پوهیږم چی د څه شی غږ ؤ ستا په خیال څه ډول درځی ؟

ملک صیب را ته وویل :

زه هم نه پوهیږم ویده وم د غږ سره سم وویریدم او راویښ شوم ، کله می چی سرله برستنی را پورته کړ تا ته می پام شو چی په خپل ځای کی ناست وی ...

بیایی زیاته کړه :

ته هم ګومان کوم چی په همدغه غږ راویښ شوی ؟

ما ورته ویل : هو ! ملک صیب زما هم نا کراره خوب په دغه درز کی په ویښه بدل شو .

ملک صابر له ځایه پاځید ښه وغځید ورو ورو د کوټی د دروازی په لوری روان شو او وی ویل :

ته ودریږه زور وره یوزل خو د بام سرته وخیژم چی څه خبره ده؟

سبابه موږ دلته ناست وو دکوږ کوه «د کفر قوا» په تر موږ بره تللی وی .

ما ورته وویل : هو ملک صیب، ښه وایی غږ بی څه نه نه ؤ ، که څه هم پیره داران شته که څه ضروری خبره وی احوال را کوی خو بیا هم احتیاط ښه دی . . . هغه می خبری تولی نه وی اوریدلی چی له کوټی ووت .

ښه د رنګ وروسته هغه بیرته کوټی ته راغی او را تەوی ویل :

خدای (ج) دی خیر پیښوی ، څه خو می تر نظر را نه غلل خود نری شال په‌کرار شرهار کی می یوه د ژړا غوندی انګازه تر غوږو کیده نه پوهیږم څه به ؤ ؟!

بیایی د تیلو څراغ را واخست بل یی کړ او وی ویل :

خوب خو مو هسی کنه‌کړ شو لږ په رڼا کی خوکینو ،

ما ورته وویل : هو تر یوه ساته باید د مرکز د احوال په انتظار کې وو ، که څه خبره وي خامخا به قوماندان صیب څوک راولیږي .

ملک صیب زما په خبره د تائید سرو خو ځاوه یوه شیبه دواړه چوپ شوو ، د چرچری یو رنگ غږ د شپې سکوت ما تاوه او په غوږو کې ئې عجیبه شانې انگازه کوله ...

ملک صیب مخ را واړاوه را ته وي ویل :

هو رښتیا که د چای مای زړه ته کیږي څه تکلیف خو نشته په تناره کې گرمي او به شته ، ما ورته وویل :

نه ، اوس د چای وخت نه دی او نه مې شوق ته کیږي ، یوځل مې د تیرې ورځې د غونډې خبرې او پیښې سترگو ته ودریدې یوه شیبه فکر یو ورم ، بې اختیاره مې ترخولې ووتل : خدای (ج) د خیر ورپیښوی .

ملک صیب په وارخطا لهجه وویل :

آمین د خدای (ج) خیر ورپیښوی مگر چا ته ؟

څه خبره ده ؟! ماته هم ووایه !

ما ورته وویل : ملک صیب ! ولی پرون د پام نه ؤ حمایت الله او جمیل ماما قوماندان صیب ته ویل چې د شپې خامخا موږ پرسرک مینونه ږدو ؟

زما د دې خبرو سره د ملک صابر خوله وازه پاتې شوه سترگې ئې رډې را ته ونیولې تا به ویل چې سابې وختله ورو ورو ئې په سترگو کې اوښکې ډنډې شوې او دچراغ په کمزورې رڼا کې به وځلیدلې ، سوړ او سیلی یې وکیښو بیایې سترگې ښکته واچولې په داسې حال کې چې د خپلو پښو په گوتوئی وارخطالوبې کولې وویل :

هو ! والله خدای (ج) د خیر ورپیښوی ، حمایت الله دوی په دغه کار کې نابلده هم وو ، خامخا داد مین د چاودلو غږؤ خدای(ج) دې خیر ورپیښوی. . . خدای (ج) دې په یوه هم د گل وارنه کوی...

هغه دم په دم دعاگانې کولې او ما به آمین ورسره غبرگول .

که به مو په یوه او بل احتمال اندیښنې کولې چې که دا کار شوی وای حتماً به اوس احوال راته ... خو زړونه مو نه صبریدل ، شپه وه ، د پیښې حال مو هم نه شوای معلومولای حیران پاتې وو .

په هر صورت شپه تیره شوه ، د سهار له لمانځه او چای خوړلو وروسته زه او ملک صیب د مرکز په لوری روان شو ، له کلی نه لا ډیرنه وولړی شوی چې په پوری لاره مو دوه تنه مجاهدین ولیدل چې په بیړه د کلی پرخوا روان دي ، ملک صیب ، غږ وربانلدی وکړ چې چیرته روان یاستي خیرت خو به وي ؟!

د هغوی چې پرموږ سترگې ونښتې سمدستي ئې بې لارې په پتیو کې راوگرځاستل چې را ننه شول ما په بیړه بیړه ترې وپوښتل : له کومه ځایه وي ؟! خیر خو به وي ؟!

بې له درنگه ئې وویل: له مرکزه راغلو ، حمایت الله شهید شوی دی...

ملک صیب ئې خبره ورپرې کړه او وې ویل :

تازه گل ماما او جمیل ماما څنگه دی ؟

یوه تن وویل : هغه هم ژوبل دی خو دومره نه ، ژوندی دی ، موږ خولیدلی هم نه دی ډاکټر صیب ورغلی ؤ ... دوی هم بیرته د مرکز په لوری راسره روان شول، ما مجاهدینو ته مخ ورواړاوه و مې ویل :

په کیسه څنگه وه ؟

یوه را ته وویل : «خدای (ج) خبر دی موږ نه وو ورسره خو د شپې یو غټ غږ پورته شو سهار له مرکز نه قوماندان صیب احوال رالیږلی ؤ چې مرکز ته راشی موږ چې «هلته» ورغلو قوماندان صیب را ته وویل چې په منلو به . . . او ملک صیب راولی حمایت الله شهید شویدی ، او موږ هم سمدستي په تاسې پسې راغلو .

په همدغه غم او ویر کې وو چې مرکز ته ورسیدو،گڼ شمیر مجاهدین او د سیمې خلک را غونډ ووا دهر چا په تندي کې د غم څپو غوتې

ژهلی ، د ځنو ځنو باړخوګانې او سترګی له ژړانه لانده ښکاریدل ، په ګنه ګونه کی د جوماتت خوا ته ولاړو، د جومات په مخه کی یوکټ ایښی ؤ سره روجایی ورباندی غوړیدلی وه ... زه او ملک صابر ورغلو روجایی موپورته کړه ، په یوه ډیری ه لوکو او وینو لړلیو غوښومو سترګی ولګیدی ...

هو ! حمایت الله د خدای (ج) د دښمنانو د مقابلی لپاره مینو نه اینبودل ، هغه د اسلام د حریم ساتنه کواله ، هغه د دښمن د جاسوسانو له نظره پټ په توره شپه کی د هغوی د ټانګونو پرلارو کی مینونه اینبودل ...

حمایت‌الله د شپی تر دولسو بجو پوری څلور مینو نه کیښودل نورئی د بالټیو او لینونو سره پرشاوړل چی په بل ځای کی ئی کیږدی ...خویو درز شو او ورسره سم د حمایت الله د بدن هډوکی او غوښی یوی او بلی خوا ته سره تیت شول . . .

جمیل ماما او تازه ګل ماما هم لرڅه ژوبل شول، خو د حمایت الله ښکلی بدن داسی ټوټه ټوټه شو چی اټکل یی نه کیده، یوازی نیم سراو مخ او نیمه پښه‌ئی ترپنډی کوزه لږ څه روغ پاتی وو ... او دهغه بدن اوس زموږ په مخکی د غوښو او هډوکو د ډیری په څیر پرکټ پروت ؤ .

د نهولسو بجو په شاوخوا کی د حمایت الله جنازه د هغه‌د کلی اورمړو» په لوری پورته شنوه ، له ټولو سره دا غم بل ملګری شو چی خدایه ! یو څو داسی ګران مجاهد رانه ولاړه بل‌به‌ئی اوس د مور څه حال وی ؟ څه به کوی ؟ ښایی ډیری بدی ورځی وکړی ...

چی‌کلی ته ورلنډیدو هر چا ځان له جنازی‌شاته یوست چی دحمایت‌الله د غمځپلی مور فریادوانه وری ، ما له ناکامه زړه را غوندڅ کړی.ؤ له ځان سره می ویل چی : که هرڅو رابانـدی سخته تمامیږی هم بایـد د حمایت الله مور ته د زړه تسلی ورکړم ... نورو مجاهدینو ته می‌هم ویل چی ځان ویستل په دردنه خوری ، راځی د صبر تلقین ورتـه وکـړو ، تسلی ورکـړو ... جنـازه د لـویی بـدرګـی تـرمخ روانــه وه اوکلی ته نـږدی کیدو د اور مړو د کلی په مخه کی ډیرماشومان ، تورسری او سپین‌ږیری ښکاریدل ... که چی موږ وررسیدو یوه تن‌یوی بوډی سپین سری ته وویل :

موری صبر وکړه ، د خدای(ج) امر دړباندی شویدی ، په بی‌صبری او ژړا هیڅ هم نه شی‌کولی، بیا هر یوه په وار وار همداسی ورته‌وویل: زه پوه شوم چی دا د حمایت الله مور ده نومی په خپل وار همداسی ورته وویل چی صبروکړه‌خدای(ج) بهٔی په دنیا او آخرت بدله‌درکړی سپین سری بوډی چی رښتیا هم د حمایت الله مور وه زموږ د اټکل پرخلاف په ډیر ډاډه زړه او آرامه لهجه وویل :

د خدای (ج) امر می په سترګو منلی ، د رب په قضا زما رضا ده ، زه می د زوی شهادت نه خرا پوم، خو یواری‌یی راوښیی !

له ناکامه کټ په ځمکه کیښود شو او سپین سری مورد خپل زوی په ګډو وډوهډوکواوټکو سروغوښو سترګی خښی کړی ...

په وچو سترګوئی څو سلګی‌وکړی او وی ویل :

زویه ! ترټوټی ټوټی وجود دی قربان شم ، په ځوانـه ځوانی را نه ولاړی ، شهادت دی مبارک شـه ، خدای (ج) دی جنت‌فردوس‌درکړی.

هغه ... هو ! سپین سری مور د زوی د بدن پرټوټو دژړا پرځای دعا ګانی‌کولی... سریی پورتـه کړ او ترخه مسکائی په خوله راغله ، موږ ته‌یی وکتل بیایی وویل : زوی می خیردی چی شهید شوهمدائی‌غوښتل خدای(ج) ورکړل ، خو چی دورس ټانګونه روغ پاتی نه شی ... «پای»

* * *

د افتخار احمد لیکنه
د رحمانی ژباړه

د اخوان المسلمون نړیوال تحریک

پس منظر :

د مصر د خپلواکۍ په جګړه کې چې په ۱۸۸۲ میلادي کال د بریتانوي استعماري لښکرو او مصري قواوو ترمنځ ونښته ، د «احمد اعرابي پاشا» ترقوماندې لاندې مصري پوځ د «الکبیر» نومي کوتل په سیمه کې سخته ماتې وخوړه . دغه ماتې د یوه لوی ملي ماتم حیثیت درلود ، ځکه چې د هغې په نتیجه کې مصري ملت تر ډیري مودې پورې د سکوت په حال کې پروت و ان تردې چې د مصر خلکو د تنظیمونو او تحریکونو له نامه نه هم کرکه کوله . حقیقت دادی چې د احمد اعرابي پاشا ماتې نه یوازې دا چې په مصریانو کې د خپلواکۍ د اظهار فکر مړ کړ بلکې تر ډیره حده پورې یې د جهاد روحیه هم مړه کړیوه، له ماتې نه یو کال وروسته بریتانوي ځواکونو مصر ترپوره قبضې لاندې کړ ، پداسې حال کې چې څوکاله مخکې غتو قدرتونو په لندن کې پریکړه کړیوه چې مصر دې د پادشاه ترتش په نامه واک لاندې یو خپلواک او خود مختار هیواد وی ، بریتانیا هم دغه خبر په خاص ډول تسلیم کړیوه چې د لندن معاهدې ته به په درنه سترګه ګوری او د مصر د سالمیت او پایښت لپاره به هیڅ ډول خطر نه پیدا کوی . په همدې اساس د بریتانیا په واسطه د مصر اشغال له بین المللی اخلاق او حقوق اصولونه ښکاره تیری و ، خو پوښتنه داده چې آیا بریتانیا ګوا له دې هم کومو بین المللی اصولو ته غاړه ایښې وه؟! د نړی د ملتونو پیښې لیک ثابته کړې او پدې شاهد دی چې بریتانیا یوازینی هیواد دی چې د اتلسمې او نولسمې پیړی په اوږدو کې یې له هر چا زیات نړیوال قوانین مات کړیدی . د بریتانیا بل تیری داو چې د احمد اعرابي پاشا له ماتې وروسته کله چې د فرانسې صدر اعظم «ډوکلر» د انګلیس د بهرنیو چارو وزارت له سکرتر (ګرینول) نه د مصر په باره کې د بریتانیا د راتلونکو پلانونو پوښتنه وکړه ، نو ګرینول په ځواب کې وویل چې د مصر اشغال موقتي شکل لری او ترهغه پوری به دوام وکړی ترڅو د مصرداخلی حالات عادي شوی نه وی[۱]. له بلې خوا د بریتانیا صدر اعظم ګلیډسټون په پارلمان کې خپلو مخالفینو ته په خطاب کې داسې وویل : «پرمصر باندې به موږ کله هم داسې قبضه ونه کړو ، ترهغه چې د ملک حالات ښه شی او د خدیو اقتدار خپل حال ته راشی نو موږ به خپل پوځونه بیرته راوغواړو»[۲].

ګلادستون د پارلمان په وړاندې د خپل ځان پاکول اصلاً یو فریب او دوکه وه ، د بریتانیا د هغو وخت تګ لاره «لارډ ډفرن»[۳] په خپلوټکو کې داسې بیانوی :

«مریانو ته د فولادي لاسونو ضرورت دی نه چې

دستوری حکومت»(۴) په ۱۸۸٤م کال کې د فرانسې د صدراعظم دوکلر د غوښتنې په اساس بریتانیا وعده وکړه چې په ۱۸۸۸م کال به خپلې لښکرې له مصر نه وباسي ، خو پردې وعده که هم وفا ونه شوه . آن تردې چې په ۱۹۰٤ع کال فرانسه هم چوپ شوه ، او دواړو هیوادونو د یوې معاهدې په ترڅ کې پریکړه وکړه چې بریتانیا به پرمراکش باندې د فرانسې قبضه تسلیموي او فرانسه به پرمصرباندې د بریتانیا اشغال(۵) .

د مصر له اشغال نه ۳۰ کاله تیر شوي وو چې نړۍ په یوه لویه جګړه کې ونښته ، د دې جګړې زیان مسلمانانو ته ورسید ؛ د مسلمانانو د اتحاد نښان ټوټې ټوټې شو، خلافت رنګ شو، سلطان عبدالحمید د خپلو او پردو پواسطه رسوا او ذلیل شو . له جګړې وروسته د بریتانیا صدر اعظم «لاید جارج» اعلان وکړ چې «مصر د بریتانیا ترحمایه لاندې هیواد دی .

د دې سره یوځای جامعه ملل هم د مصریانو پرغلامۍ باندې د تصدیق مهرولګاوه ، ګواکې د بریتانیا دغه غیرقانوني اقدام د نړیوالې مؤسسې په واسطه رسمیت پیدا کړ . بریتانیا په نړیواله سطحه له خپل حیثیت ټینګولو وروسته ، د مصر داخلي وضعې ته متوجه شو او رشدي پاشا یې د صدر اعظم په حیث وټاکه ، دا داسې وخت وچې په مصریانو کې ملي او وطني احساسات یوځل بیا را ژوندي شوي و ، او په سینوکې یې د خپلواکۍ هیلو ټوپونه وهل. دې ټولو ثابتوله چې مصریان او مصري ملت د غلامۍ کړې نورې نشي زغملای . د سیاسي علوموپوه سهني نیلتن په ۱۹۱۳ کال کې په خپل (مصري د تلو راتلو په حال) نومې کتاب کې لیکلي چې - «موږ په مصرکې په هر چا نه یوګران ، امکان لري چې ځینې له موږ نه ویریږي او بې شکه چې زیات یې زموږ درناوی کوي ، خو زما یقین دی چې ډیرلږ خلک موږ غواړي»(۶).

«الحزب الوطنی» په مصر کې یوازینی ګوند وچې د خپلو رهبرانو لکه مصطفی کامل پاشا (۱۸۷٤-۱۹۰۸) او محمد فرید بک یې تر مشرتا به لاندې د خپل وطن د خپلواکۍ لپاره جنګیده ، د دې ګوند شعارو : مصر د مصریانو دی . مصطفی کامل پاشا په خپل وخت کې تر آخرینې حد پورې هڅه او هاند کاوه او د مصریانو د ملي احساساتو په ژوندي کولو کې یې هیڅ کمی ونه کړ ، هغه به ویل :- که چیرې ټوله مصریان د مصرې تمدن اساس کینږدي نو په راتلونکې کې به دغه تمدن رامنځ ته نشي ، ترڅو چې بزګران ، تجاران ، استادان ، شاګردان په لنډ ډول هر مصري تبعه په دې ونه پوهیږي چې انسان د فطري او غیر محسوسو حقوقو درلودونکی دی او د یوې آلې په شان د استعمالولو لپاره نه دی پیدا شوی بلکې دغه باید یو عزتمن او عاقلانه ژوند وکړي .... : د وطن مینه ډیر عالي فکر دی چې د هغې پواسطه روح تقویه کیږي..... کوم قوم چې خپلواک نه وي داسې حیثیت لري چې اصل موجود نه دی . د وطن مینه ده چې د ملتونو په رګونو کې د غیرت مینه زغلوي او د وطن مینه ده چې هر ذی روح ته ژوند وربښي»(۷).

د مصطفی کامل پاشا ځوانمرګی او د محمد فرید بک بې د بې تدبیریو په وجه الحزب الوطنی ډیرژر د مصر له سیاسي ډګر نه ووت . له دې وروسته د آزادۍ ډیوه چې مصطفی کامل پاشا بله کړیوه یوځل بیا د محمد عبده د شاګرد سعد زاغلول(۸) پواسطه بله کړی شوه او د مصرخپلواکۍ غوښتونکي یې د «وفد» تر بیرغ لاندې را ټول کړل ، د وفد ګوند د خلکو په زړونو کې ډیر ژر ځای ونیو . د دغه ګوند ځینې مشران لکه سعد زاغلول ، علي شاربي

پاشا ، عبدالعزیز فاطمی د مصر د آزادی غوښتلو
په خاطر د بریتانیا د لوی کمشنر سره خبری اتری
وکړی خو د خپلواکی دغه غوښتنه رد شوه ، ! وفد
گوند هم په ټول هیواد کی لویې مظاهړی پیل کړی،
حکومت سعد زاغلول او د هغه ملگری ونیول او په
مالتا کی نظر بند شول . ملت هم د خپلو رهبرانو
د نظربندی په وجه د ملک په گوټ گوټ کی بغاوتونه
شروع کړ، په ځای ځای کی لاری بندی کړی شوی ،
اورگاډی په رڼا ورځ لوټ شول ، انگریزی افسران
ووژل شول، یوازی په قاهره کی په سلگونو حکومتی

که څه هم سیاسی ډگر نشنلستانو په لاس کی نیولی
وو ، خو هغه اخلاقی او فکری روزنه چی د خپلواکی
گټلو لپاره د ملت لپاره ضرور وه ، وفد په هغی کی
بیخی ناکام و ، او د مصرمات په عام ډول د فکری
سکوت سره لاس او گریبان و ، د الازهر علماوو هم
د دی جمود په له منځه وړلو کی هیڅ ونه کړل ،
په دی ډگر کی که چیری د سید جمال الدین افغانی
خدمتونه یاد نه کړو نو د هغه په حق کی به مو
ظلم کړی وی . سید جمال الدین لومړنی مفکرو -
چی په همدغه جنجالی اوگډوډ حالت کی یی د اسلامی

د افغانستان د اسکیرلو مسلمانانو له زرگونو کورونو څخه د
یوه کور نمونه چی د کمونیزم سیلی پری لگیدلی ده .

مانیو ته اوروا چول شو او یا لوټ کړی شول لنډه
دا چی په ټول ملک کی بی امنی او بی نظمی خوره
شوه ، قانون او مقررات نه وو ، آن تردی چی
د بریتانیا پارلمان هم پردی مسئله باندی د بحث
په ترڅ کی اعتراف وکړ چی « ټول مصر بغاوت
کړی»(٩). پوځ په ډیر مشکل سره حالات په کنترول
کی راوستل. دا هغه وخت وچی انگریزانو د لومړی
ځل لپاره د ملیت او وطنیت په نامه را پاڅیدلی
سیاسی تحریک زور اندازه کړ . په ډیر افسوس سره
باید یاد کړو چی له لومړی نړیوال جگړی وروسته

نړی د یووالی چیغه پورته او د اسلامی خلافت
د ژوندی کیدو شعارونه ورکړل ، ولی له مصر نه
د هغه دایستلو په وجه دغه شعارونه او ناري چوپي
شوی . که څه هم د هغه شاگردانو محمد عبده او
رشید رضا په گډه سره هڅه وکړه چی د هغه ځای
ډک کړی ، خو ناکام شول .

حقیقت دا دی چی مصری ملت په هغه وخت کی
په ذهنی او فکری لحاظ شنډ شوی وه بی حیایی او
فحشا د ثقافت او فرهنگ په جامه کی په زیاته پیمانه
خپریدل ، قمار ، شراب ، وژل او لوټل ورځی

کارونه گرزیدلی و ـ له یوی خوا انگریزانو او یهودیانو د خپلو گډو پلانو له مخی یو شمیرځوانان په مصری جامه کی روزلی وو ترڅو په ملتکی اخلاق تباهی راولی . همداسی هم شول . له بل پلوه دترکی په لار الحاد او زندقه د نشنلزم په جامه کی مصرته را داخل شول . د مصر دینی او اخلاق نوامیسو د زړو نکلونو رنگ غوره کړ او ورو ورو له منځه وړل کیدل . یا په بل عبارت د دی سیاسی مریتوب په دوران کی له مصر نه د اخلاقوجنازه بار شوه .

په داسی یو وحشتناک او غم انگیز حالت کی یوه داسی تحریک ته ضرورت وو چی پههغه کی داصلاح تولی خرا وی موجودي وی ، او وکولای شی له یوی خوا د ملت او نشنلزم په نامه راپورته شوو تحریکونو سره مقابله وکړی او له بل پلوه په دغه گډوډ حالت کی ملت په اخلاقی او فکری ډول وروزی او په فطری لارهبی برابر کړی .

په اسماعلیه کی یو ځوان «حسن البنأ» د مصر دغی وضعی په ډیر تشویش او فکر کی ډوب کړی او حالاتیی تر ژوری مطالعی لاندی نیولی وو.نوموړی ځوان د خپلی زمانی حالت داسی بیانوی :

«د شهوت او فکری خوړتیا بازار سخت تود و او د اسلام ښکلی او لوړ مانځ د کمزوری په لور روان او د له منځه تللو په حال کی و ، د دی حالت په لیدلو سره د هغه کال د روژی نیمایی میاشت ویده نه شوم ، د سختی پریشانی او فکر وهلو په وجه می خوب ورک شو . ما د مثبت او عملی کار پروگرام جوړولو او په زړه کی می ویل چی زه ، دغه اسلامی مشران د هغو د مسئولیتونو لپاره ځنگه راپاخولی‌شم؟ زه هغوی ولی نه دعوتوم چی یو بل تهلاس ورکړی او د دغه تور توپان مخه ونیسی، که هغوی زما بلنه ومنی ډیر ښه او که نه نو زما لار به بله وی . د دی کار لپاره می‌کلکه ملاوتړله او عملی گامونه می پورته کړل»(١٠) هغه زیاتوی :

«له دی وروسته په نورو اسلامی هیوادوکی ځینی داسی نوری پیښی و شوی چی زما احساساتیی ژوندی کړل او د عملی کار پیل کولو سخت ضرورت می احساسا وه . زه لازم چی خلکو ته د حالاتو د پوره نخچی رسمولو احساس ورکولو وروسته دعمل ضرورت دی او ضرورت دیء چی هغوی ته شعور ورکړو او په چټکتیا سره کار پیل شی» .

په همدی اساس حسن البنأ په ١٩٢٧ع کال کی د مصر د جیدو عالمانو سره لیده کاته پیل کړل . پدی علماو کی ، شیخ احمد عسکریه ، شیخ حسن عبدالمجید ، حسن افندی ، احمد افندی امین ، محمد بشیر محمد سلیم عطیه ، کمال افندی ، ابراهیم افندی، عبدالفتاح، سید افندی، محمدافندی الشرنوی. د قاهری د حصانی بهانی او سلفیه جامعی شیخ احمد الکبیر ، محمد خضر الحسنین ، استاد محمد احمد غراری ، احمد تیمور باشا او عبدالعزیز پاشا سرهیی وکتل او هغوییی د راتلونکو خطرونو نه پوره خبر کړل ، هغوی تهیی احساس ورکړ چی ملت ته باید فکری لارښود نه وشی . شیخ د دی لیدوکاتو داسی بیان کوی :

«ما له یو شمیر قومی او دینی رهبرانو سرهدعملی کار او کوښښ د ضرورت په هکله خبری اتری وکړی ، ځینوی زه بیخی ناهیلی کړم، ځینو بیا روحیه راکړه ، او ځینو د چوپتیا مشوره راکوله ، خو ماچی دعملی کارکومه نتیجه غوښتله چا ترینه گوښه نه شوای کړی . دلته که چیری د احمد تیمور پاشا یادونه و نه کړم ډیره بی وفایی به وی . ما چی که هغه ولید ، د غیرت او همت یوه مجسمه وه او دعزم او شجاعت سمبول که چی د ملت د حالاتو په هکله له نوموړی سره غږیدم ، په هغه کی می پوره ذکاوت، ځیرکتیا ، استعداد او لیاقت احساساوه ، او د عمل لپارهیی پوره تیاری ښوده الله تعالی دی پرهغه‌رحمت وکړی او اجر جزیل دی ورکړی .

